# قضاء

۸

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې درې میاشتنۍ مجله

شرعي

قضائي

حقوقي

درېیم کال، اتمه گڼه (رجب المرجب، شعبان المعظم او رمضان المبارک) ۱۴۴۶ هـ ق/ ۱۴۰۴ هـ ش

د تأسیس کال: ۱۳۰۹ هـ ش

# قضاء

شرعي- قضائي - حقوقي
د افغانستان اسلامي امارت د سترې
محکمې درې میاشتنۍ مجله

دریېیم کال، اتمه ګڼه

( رجب المرجب، شعبان المعظم او رمضان المبارک ) ١٤٤٦ هـ ق/ ۱۴۰۴ هـ ش

د تأسیس کال: ۱۳۰۹ هـ ش

د امتیاز څښتن: ستره محکمه     خپروونکی: د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

**کتنپلاوی**

شیخ محمد قاسم «راسخ»

مفتي عبدالرشید «سعید»

مفتي عبدالرحمن«عزیزي»

مولوي حمدالله«محمدي»

حافظ مولوي عبدالولي «محمود»

مسؤول مدیر: مولوي عبدالرحیم «راشد»

پته: د عامې روغتیا څلور لارې، نهمه ناحیه، ستره محکمه، کابل - افغانستان

د اړیکې شمېرې: ۲۳۰۰۳۶۱_۲۳۰۲۲۶۳

برېښنالیک: publications.sc1443@gmail.com

ویب سایټ: www.supreme court.gov.af

# د مطالبو لړلیک


اداره
سرمقاله ۱

ژباړن: مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني
د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته ۲

نویسنده: اجمل «ذهین»
مقدمه به قواعد فقهی ۷

لیکوال: حافظ مولوي دلاور «طارق»
تزویر د شریعت او قانون له نظره ۱۰

لیکنه: مولوی عبدالکریم «الکریمي»
غلا او مسائل یې ۱۴

اداره
د قضائي تفتیش له عمومي رئیس سره ځانګړې خپرونه ۲۳

اداره
گزارش اجراآت قضائی و اداری ستره محکمه ۲۷




# سرمقاله:

## د عادل او توانا ځښتن په سپېڅلي نامه

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله رب العالمين و الصلوه والسلام على سيد المرسلين محمد و على آله و اصحابه اجمعين، اما بعد:

له هغې ورځې راهیسې چې د اسلام خوږ پیغمبر ﷺ په پیغمبرۍ مبعوث شو او د اسلام مبارک دین ظهور وکړ، د انسانانو ترمنځ د شته بدبختیو، ظلم، انساني حقوقو د ضایع کېدو، د انساني کرامت د تحفظ، سرکشیو د مخنیوي او بالآخره د انساني ټولنې د وګړو ترمنځ د عدالت د تأمین هڅه پیل شوه.

دا په اصل کې هغه وخت و، چې انساني ټولنو کې ظلم، سرکشي او نواهي نور اوج ته رسېدلې وې، زورواکو به کمزوري انسانان له ټولو حقونو بې برخې کړل/کول او د خپل ژوند د پایښت او اسانتیاوو لپاره به یې ترې استفاده کوله، عربو ټولنو کې ګمراهي دومره زیاته شوې وه چې په یوه کور کې به د نجلۍ پیدا کېدل عیب ګڼل کېده؛ نه یوازې عیب؛ بلکې د الله تعالی دغه مخلوق (ښځې) به یې په ډېر ظلم ژوندۍ تر خاورو لاندې کولې؛ نو الله تعالی پر خپلو مخلوقاتو رحم وکړ او رسول الله ﷺ یې د خپل استازي او لارښوود په صفت راولېږه.

د رسول الله ﷺ په وسیله یې ټولنه کې داسې الهي قانون نافذ کړ چې تر قیامته په کې د انسانانو او آن ټولو ژوندیو موجوداتو ارامي نغښتې ده، په دغه قانون کې هر راز ظلم، زیاتی، سرکشی، د یو او بل د حقونو ضایع کېدل او ... منعه اعلان شوي او ټول وګړي په کې په عدالت مکلف ګرځول شوي دي.

الله تعالی د خپل مبارک کلام د مائدة سورت په ۸ام نمبر آیت کې فرمایي: «یا أَیُّهَا الَّذینَ آمَنوا کونوا قَوّامینَ لِلَّهِ شُهَداءَ بِالقِسطِ ۚ وَلا یَجرِمَنَّکُم شَنَآنُ قَومٍ عَلىٰ أَلّا تَعدِلُوا ۚ اعدِلوا هُوَ أَقرَبُ لِلتَّقوىٰ ۖ وَاتَّقُوا اللَّهَ ۚ إِنَّ اللَّهَ خَبیرٌ بِما تَعمَلونَ»

ژباړه: اې مؤمنانو! د الله لپاره پر رښتینولۍ ولاړ او د عدل شاهدان اوسئ. د کومې ډلې دښمني تاسې دومره را و نه پاروي چې له عدالت څخه واوړئ. عدالت وکړئ، دا له پرهېزګارۍ سره نږدې اړیکه لري. د الله له وېرې سره کار کوئ، هر څه چې تاسې کوئ، الله پرې پوره خبر دی.

دې ته ورته د الله تعالی ﷻ او د هغه د رسول ﷺ ډېر قولونه شته چې مسلمانان یې په عدل مکلف ګرځولي او له ظلم او زیاتي یې منعه کړي دي، له رسول الله ﷺ څخه وروسته خلفاء راشدینو او ورپسې تر نن ورځې اسلامي نظامونو د عدالت د تأمین او حق حقدار ته د سپارلو په موخه په خپل جوړښت کې مهم او با صلاحیته قضائي ارګان جوړ کړی دی، چې په اړه یې پوره معلومات د همدې مجلې له لومړۍ ګڼې پیل او په هره ګڼه مجله کې په سلسله وار ډول چاپېږي.

د افغانستان اسلامي امارت هم د دغه مهم رسالت لپاره پوره هڅه کړې ده او د هېواد د ستر محدث، عادل او امین شخصیت محترم قاضي‌القضات شیخ عبدالحکیم (حقاني) حفظه‌الله تر مشرۍ لاندې یې سترې محکمې ته پوره خپلواکي ورکړې تر څو خپل شرعي وجیبه په ښه ډول ترسره کړای شي.

سترې محکمې هم هېواد کې د عدالت د تأمین لپاره نه ستړې کېدونکې هڅې کړې/کوي، چې د خپلو شرعي او خپلواکو پرېکړو له مخې ظالمان مجازات او د مظلومانو دفاع وکړي.

د سترې محکمې د فعالیتونو د ښه او پر وخت انعکاس لپاره بیا د سترې محکمې په تشکیل کې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست جوړ شوی چې د ولس او محاکمو ترمنځ د ارتباطي پل دنده ترسره کړي، د سترې محکمې اجراآت په ټاکلي وخت تر ولس ورسوي او دغه راز د ولس غږ او غوښتنې د سترې محکمې تر محترمو مسؤولینو ورسوي.

د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د دغه مسؤولیت د ترسره کولو په موخه بېلا بېلې غږیزې خپرونې، چاپي خپرونې، انفوګرافیک او ... جوړې او په ټاکلي وخت یې خپروي، د یادو خپرونو له ډلې یوه هم د قضاء مجله ده چې دا دی الحمدلله اتمه ګڼه یې هم چاپ او تر تاسو قدرمنو لوستونکو ورسېده.

د قضاء مجلې په دې ګڼه کې د شته قضائي، شرعي او حقوقو مقالو او سترې محکمې محکمې د اجراآتو د راپور معلومات د مجلې په لومړۍ پاڼه (لړلیک) کې موجود دي، هیله ده مجله تر لوستلو وروسته په خوندي ځای کې وساتئ؛ ځکه مجله کې ډېرې د قرآنکریم آیتونه او نبوي حدیثونه موجود دي.

**په درنښت**

# د قضاء تاریخ له نبوي دورې څخه تر اسلامي امارته

اتمه برخه

لیکوال: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم «حقاني»[1]
ژباړن: مولوي عبدالرحیم «راشد» حقاني [2]

## د راشده خلافت په دوره کې قضاء:

رفیق اعلی ته د رسول الله ﷺ له رحلت او د ابوبکر صدیق رضي الله عنه سره د بیعت له وخت څخه د راشده خلافت پیل شوی، په ۱۱ هجري چې له ۶۳۲ زیږدیز کال سره سمون خوري ابوبکر رضي الله عنه خلافت ته ورسېد، چې راشده خلافت بیا د علي ابن ابي طالب رضي الله عنه تر شهادت پورې یعنې تر ۴۰ هجري چې له ۶۶۱ زیږدیز کال سره سمون خوري دوام وکړ.
راشده خلافت له نبوي دورې څخه وروسته تر ټولو ښکلې دوره وه؛ بلکې په حقیقت کې دا دوره د قضاء په خپراوي، د احکامو په تطبیق، د الله تعالی په دین او شریعت باندې د منګولو لګولو اړوند نبوي دورې امتداد و. څلور خلفاء راشدین ټولو صحابه کرامو کې د دین، علم، چلند، دعوت او اسلام خپراوي کې غوره وو، چې د دوی فضیلت په ډېرو نصوصو سره ثابت شوی او د دوی دوره په ډېرو ځانګړو صفاتو سره ممتازه بلل شوې، چې دلته یې د بحث د اوږدوالي له امله نه شو ذکر کولی.
د خلفاء راشدینو په دوره کې قضاء خپله د نبوي دورې د قضاء امتداد و، چې د رسول الله ﷺ د روزنې او ملګرتیا له برکته و؛ مګر راشده خلافت بیا د جزیرة العرب څخه دباندې د اسلام د خپراوي شاهده ده، چې په دې دوره کې لوی لوی ښارونه فتحه شول، ډلې ډلې خلک د اسلام په مبارک دین مشرف کېدل؛ خو دا هم څرګنده خبره ده چې د همدغه مفتوحه ښارونو حالت داسې نه و لکه د حجاز او جزیرة العرب او نه هم دا نوي په اسلام کې داخلېدونکي کسان داسې وو لکه مهاجر او انصار صحابه کرام او نورې عربي قبیلې؛ د ایمان درجې به یې توپیر کاوه او دین باندې د ټینګښت مرتبې یې هم فرق کاوه؛ نو له همدې وجې کله چې راشدي دوره د دغه بدلونونو او نویو موضوعاتو سره مخ شوه، نو هغه اساسات، قواعد او تشکیلات یې وضع کړل، چې د حقوقو ملاتړ، د عدالت راتګ، د ځان، مال او نسبونو ساتنه پرې کېدله، حتی مسلمانانو به د حنیف دین تر سیوري لاندې به ګټه

۱- د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې رئیس

۲- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو رئیس

اخیستله او له دې عمومي خیر څخه به یې استفاده کوله، چې دا کارونه په زور حاصل شوي وو او له همدې وجې راشده خلافت کې د قضاء اهمیت په دوو اساسي ځیزونو څرګندېږي:

۱- نبوي دوره کې د قضاء اړوند نصوصو ته پاملرنه، په دې باره کې راغلو ځېزونو باندې عمل، همدې لاره باندې تګ او د دغه شیانو التزام باندې همېشوالی کول.

۲- د اسلامي دولت د بنسټونو د پیاوړي کولو لپاره قضاء کې د نویو تشکیلاتو وضع کول.[۱]

په قضائي برخه کې نوښتونه، بدلونونه او تشکیلات د ابوبکر صدیق او عثمان بن عفان (رضي الله عنهما) په دورو کې کم وو او د عمر فاروق ﵁ په دوره کې پراخوالی په کې راغی او ځینې نور اړخونه یې بیا د علي بن ابي طالب ﵁ په دوره کې ښکاره شول، نو موږ هم اوس هره دوره کې د دې اړوند لنډ لنډ بحث کوو.

**د ابو بکر صدیق ﵁ دوره کې قضاء:**

**د ابو بکر صدیق ﵁ پېژندنه:** اصلي نوم یې عبدالله دی، د عثمان زوی دی، هغه د عمرو، هغه د کعب، هغه د سعد، هغه د تیم، هغه د مره، هغه د کعب، هغه د لؤي او هغه د غالب زوی دی.

کله چې نبي کریم ﷺ رحلت وکړ، نو د ده د نص له امله چې کله یې دی مخته کړ، نو په بني ساعده سقیفه کې بیعت ورسره وکړل شو او کله چې له ده سره بیعت شروع کېده، نو وویل: «ما پرېږدئ؛ ځکه زه ستاسو په خیر نه یم»، مګر ټولو وویل: په الله قسم چې تا به پرېنږدو او نه به ستا استعفاء ومنو؛ ځکه رسول الله ﷺ ته موږ ته په دیني چارو کې غوره کړې، نو موږ به تا خپلو دنیوي چارو کې نه انتخابوو؟

ابو بکر صدیق ﵁ د ٦٣ کلنۍ په عمر، د هجرت په ۱۳ کال د جمادی الآخره څخه اته ورځې مخکې وفات شو، چې د خلافت دوره یې دوه کاله، څلور میاشتې او لس ورځې وه.

**هغه مهم کارونه چې د ابوبکر ﵁ د خلافت په دوره کې ترسره شوي:**

۱- د اسامه بن زید د لښکر استول، دا هغه لښکر و چې رسول الله ﷺ د شام تخوم البلقاء سیمې ته امر کړی و، کله چې زید بن حارثه، جعفر بن ابي طالب او عبدالله بن رواحه (رضي الله عنهم) شهیدان شول، نو هغه سیمې ته د غزا لپاره ولېږل شو، نو دوی هم ووتل او جرف کې یې خیمې ودرولې، چې د دوی منځ کې عمر بن خطاب ﵁ هم موجود و او ځینو ویلي، چې ابوبکر صدیق ﵁ هم موجود و؛ خو رسول الله ﷺ دی د لمانځه لپاره ترې مستثنی کړ. نو کله چې د رسول الله ﷺ ناروغي سخته شوه، دوی همدلته پاتې شول او کله چې یې رحلت وکړ، خبرې لویې شوې، حالت ډېر سخت شو، مدینه کې نفاق خپور شو او د مدینې شاوخوا ځینې مرتد شول، ځینو بیا ابوبکر ﵁ ته د زکات ورکولو څخه منعه وکړه، د مدینې او مکې څخه پرته بل ښار کې د جمعې لمونځ نه کېده؛ خو لنډه دا کله چې دغه ټول کارونه پېښ شول، نو ډېرو خلکو ابوبکر ﵁ ته مشورې ورکړې، چې د اسامه لښکر دې نه لېږې؛ ځکه دې لښکرته ډېره اړتیا لیدل کېږي، نو ده وویل: د الله په ذات مې دې قسم وي، چې زه به هغه غوټه هېڅکله خلاصه نه کړم، کومه چې رسول الله ﷺ تړلې وي، که څه هم مرغان موږ وخوري، د مدینې شاوخوا ځناور راټول شي او تر دې لا ور هغه خوا که سپي د مؤمنانو میندي له پښو را کش کړي؛ نو بیا به هم د اسامه ﵁ لښکر مجهز کوم او ساتونکو ته یې امر وکړ، چې د مدینې شاوخوا وساتي، نو په داسې حال کې، چې د دغه لښکر وتل له لویو مصالحو څخه وو، لښکر هم حرکت وکړ، د عربو له هر کلي چې تېرېدل، رعب به یې پکې خپور شو او ویل به یې: دا خلک له سخت مقاومت څخه وتلي دي، نو هلته یې ۴۰ او یا ۷۰ ورځې تېرې کړې، چې بیا روغ رمټ او د غنیمت څخه مالامال راغلل، د راستنېدو سره بېرته د مرتدینو او زکات نه ورکوونکو سره د جګړې په موخه مجهز او ولېږل شول.

یو روایت کې راځي، کله چې ابوبکر ﵁ د اسامه ﵁ د لښکر د تجهیزولو هوډ وکړ، نو ځینو انصارو عمر ﵁ ته وویل: اې عمر فاروق ﵁! ته ابوبکر ﵁ ته ووایه، چې له اسامه پرته بل څوک پر موږ امیر کړي، نو عمر هم

۱ - تاریخ القضاء فی الاسلام، ص:۸۴.

دا خبره ور ورسوله، ابوبکر ﵁ دی تر ږیرې ونیوه او ویې ویل: اې عمره! مور دې درباندې بوره شي، زه د رسول الله ﷺ له امر پرته بل څه باندې امر وکړم؟ له دې وروسته خپله «جرف» ته ولاړ، د اسامه لښکر یې برابر کړ او د تګ امر یې ورته وکړ، د دوی سره په پښو روان شو، اسامه سپور و او د ابوبکر صدیق ﵁ سورلي عبدالرحمن بن عوف ﵁ روانه کړې وه، نو اسامه وویل: اې د رسول الله ﷺ ځای ناستی! یا به ته هم په سپرلۍ سپریږې او یا به زه هم کښته کیږم، ابوبکر ﵁ وویل: زما دې په الله قسم وي، چې نه به ته راکښته کیږې او نه زه په سپرلۍ سپریږم؛ له دې وروسته ابوبکر ﵁ له اسامه څخه روان شو او دی یې عمر ﵁ ته پرېښود او عمر ﵁ د اسامه لښکر کې و؛ نو له همدې امله به هر کله چې عمر ﵁ له اسامه سره مخ کېده، نو ورته ویل به یې: «السلام علیک أیها الأمیر» اې مشره! پر تا دې سلام وي.

۲- د مرتدینو او زکات نه ورکوونکو لپاره یې لښکر تیار کړ، چې یوولس (۱۱) بیرغونه یې وتړل او د هر بیرغ څښتن یې په یوه لوري ولېږه او دی خپله د هغه بیرغ والا سره و، چې «ذي القصة» ته یې اماده کړی و؛ مګر علي ﵁ ډېر ټینګار ورباندې وکړ، چې بېرته به ګرځي او په داسې حال کې چې د خپلې سپرلۍ قیزه یې نیولې وه، علي ﵁ ورته وویل: اې د رسول الله ﷺ ځای ناستی! زه تا ته هغه څه وایم، کوم چې د احد په ورځ رسول الله ﷺ وویل: موږ ته ستا توره ګټه نه کوي، بلکې خپلې تورې ګټه را رسوي، نو زما دې د الله په ذات قسم وي، که چېرې مسلمانان له تا سره ماته وخوري، نو بیا به هېڅکله د دوی پر وړاندې ونه دریږي.

ابوبکر﵁ (همدا خبره ومنله)، بېرته وګرځېد او بیرغ یې بل چاته وسپاره.

الله ﷻ د مسلمانانو ملاتړ وکړ، د ارتداد لاره وتړل شوه، اسلام د جزیرة العرب شاوخوا کې استقرار پیدا کړ او ټول قبایل د زکات ورکړې ته تیار شول.

۳- ابوبکر ﵁ عراق لوري ته خالد ﵁ تیار کړ او له ده سره یې مثنی بن حارثه الشیباني هم ولېږلو، نو ډېر ښارونه یې فتحه کړل، بېرته بریالي او له غنیمتونو سره راوګرځېدل.

۴- له خپل ځان سره یې د روم ښارونو ته د غزا پلان جوړ کړ، چې صحابه کرام یې را ټول کړل او په دې اړه یې مشوره ورسره وکړه؛ نو ټولو د ده نظر خوښ کړ، بیا ده علي ﵁ ته وکتل او ورته یې وویل: اې د حسن پلاره! ستا نظر څه دی؟ هغه وویل: زما نظر دا دی، چې دا یو نېک او که د الله خوښه وه بریالی او با نصرته کار دی، نو دې سره ابوبکر ﵁ خوشحاله شو او الله ﷻ یې سینه دغه کار ته خلاصه کړه، خلک یې را ټول کړل او یو خطیب یې ودراوه، چې دوی جهاد ته وهڅوي، ټولو والیانو ته یې لیکونه ولیکل او امر یې وکړل چې حاضر شي، ډېره غټه غونډه یې جوړه کړه او قومونه ډلې ډلې راغلل، نو ابوبکر ﵁بیرغونه وتړل، ټول امیران یې امر کړل او د شام لوري ته یې په پر له پسې توګه ولېږل، ابو عبیده ﵁ یې د ټولو لښکرونو مشر وټاکه او کله به یې چې امیر لېږه، نو هغه سره به یې خدای په امانی کوله او د الله ﷻ څخه په وېرې، ښه چلند، په خپل وخت جماعت باندې همېشتوب به یې سپارښتنه ورته کوله او چې هر یو لومړی خپل ځان اصلاح کړي، تر څو الله ﷻ د ده خلک مصلحین وګرځوي، کله چې د دښمن استازی ورته راځي، عزت او اکرام به یې کوئ او لږ وخت ورسره تېر کړئ، تر څو په داسې حال کې له خپلو عسکرو څخه ووځي، چې د مسلمانانو له حال څخه ناخبره وي.

مسلمانان هم د روم ښارونو طرف ته روان او یرموک ځای کې را ټول شول او ابوبکر ﵁ ته یې د روم د ډېرې ګڼه ګونې څخه خبر ورکړ، نو ده ﵁ خالد بن ولید ﵁ ته چې په عراق کې و، ولیکل چې شام ته لاړ شي او د ابو عبیده ﵁ لښکر ملاتړ لپاره په عراق کې د مېشت اردو څخه نیم له ځان سره واخلي، د پاتې نیمو نورو لپاره یې مثنی بن حارثه وټاکه او هغه ته یې امر وکړ، چې شام ته له رسېدلو سره سم د لښکر مشري په غاړه واخلي.

خالد ﵁ هم حرکت وکړ، تر څو شام کې له مسلمانانو سره یو ځای شو او یو لیک یې ابو عبیده ﵁ ته ولیکه، چې په کې لیکل شوي وو: «أما بعد! بې شکه زه د الله

تعالی څخه دا سوال ځان او تاته کوم، چې د وېرې په ورځ امن او د دنیا په کور کې له ټولو بدیو څخه ساتنه را په برخه کړي.
ماته د رسول الله ﷺ د ځای ناستي (ابوبکرؓ) لیک را رسېدلی، چې په هغه کې یې ماته شام ته په تګ، د لښکر برابرولو او د هغوی مشري په غاړه اخیستلو امر کړی و او زما دې د الله ﷻ په ذات قسم وي، چې نه د دې غوښتنه او نه مې اراده کړې وه، نو ته په خپل مخکني حال باندې یې، موږ ستا نافرماني نه کوو، نه دې مخالفت کوو او نه به ستا څخه یو شی هم واخلو».
نو کله چې ابو عبیده د خالد ؓ لیک ولوست، ویې ویل: الله تعالی دې د رسول الله ﷺ ځای ناستي باندې د خپلې رایې په سبب برکتونه نازل کړي او الله ﷻ دې خالد ؓ د کړي کار له امله ژوندی لري.
او ابو بکر ؓ همدارنګه ابو عبیده ؓ ته هم لیک لیکلی و، چې په کې راغلي وو: «أما بعد! بې شکه ما شام کې د دښمن سره د جګړې مشر خالد وټاکه، نو مخالفت یې مه کوه، خبرو ته یې غوږ ونیسه او پیروي یې وکړه؛ ځکه چې اې زما وروره! ما دی د دې لپاره نه دی در لېږلی، چې تر تا زما په نزد غوره والی لري، مګر ما دا فکر کړی، چې په دې سخت ځای کې په جګړه کې د ده ځیرکتیا ډېره ده.
الله تعالی دې موږ او تاسو ته خیر پېښ کړي.
والسلام».
نو بیا مسلمانان او رومیان مخامخ شول او د دوی ترمنځ جګړه پیل شوه، د جګړو لړۍ چې د څه مودې لپاره دوام یې وکړ او وروستۍ پایله یې د مسلمانانو لپاره بریا وه، د روم څخه ډېر شمېر یې ووژل شول، چې حساب یې ګران و او همدارنګه ډېر زیات ور څخه بندیان شول.
او په دغه وخت کې خالد بن ولید ؓ ته خبر راورسېد، چې ابوبکر ؓ وفات شوی او د خلافت بیعت له عمرؓ سره شوی او ترځنګ یې د خالد د معزوله کېدو او د لښکر مشر ابو عبیده ټاکل کېدو خبره هم لیکل شوې وه؛ نو خالد ؓ زیات خوشحاله شو، ددې لپاره چې د مسلمانانو صفونو کې ګډوډي رامنځته نه شي او کله چې خبر ابو عبیده ؓ ته ورسېد، هغه هم خوشحاله شو او له همدې امله یې خبره پټه وساتله.[1]

**د ابوبکر صدیق ؓ په دوره کې د قضاء وده:**

بې شکه پر خلیفه امیر باندې قضاء فرض عین ده؛ ځکه دا د شرعي احکامو د پلي کولو له مهمو اړخونو څخه ده، د دین او دنیا د چارو اقامه پرې موقوفه ده، نو په خپله دا سپېڅلې دنده ترسره کوي او یا به د ځان له طرفه استازی وټاکي.
او ابو بکر ؓ کله کله په پلازمېنه کې قضاء خپله ترسره کوله، لکه د نیا د میراث مسئله کې، چې وروسته به یې یادونه راشي.
او کله به یې بل چاته وسپارله، چې وکیع د محارب بن دثار څخه روایت کوي، وایي: ماته فلان دا روایت کړی دی، چې وایي: کله چې ابوبکر ؓ خلیفه وټاکل شو، نو عمر او ابو عبیده بن جراح (رضي الله عنهما) ته یې وویل: بې شکه ماته د همکارانو اړتیا شته، نو عمر ده ته وویل: زه قضاء برخه کې درسره یم او ابو عبیده وویل: زه د بیت المال برخه کې درسره یم.[2]
او د پلازمېنې بهر یې قاضیان ټاکلي وو، مګر د ده په دوره کې قضاء خپلواکه نه وه؛ بلکې د ولایت ترڅنګ به وه او ده ؓ د نبوي دورې زیاتره قاضیان او والیان په خپلو ځایونو پرېښي وو، چې د قاضیانو په بحث کې به یې بیان راشي.

**له علماوو څخه د ابو بکر ؓ پوښتنه:**

کله چې به ابوبکرؓ یو حکم په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې پیدا نه کړ، نو له نورو خلکو به یې پوښتنه وکړه او د خبرې په منلو کې ټینګ و.
د قبیصه بن ذؤیب څخه روایت دی، وایي: یوه نیا (د مور، مور او یا د پلار مور) ابو بکر ؓ ته راغله، ورته یې

---

۱ - فقه السیرة النبویة، ص: ۳۵۲.

۲ - أخبار القضاء:۱:۱۰۴.

وویل، چې زما د زوی زوی او یا زما د لور زوی مړ شوی او ماته یې دا خبر راکړی و، چې د الله تعالی په کتاب کې زما لپاره حق (میراث) شته؛ ابوبکر ﷛ وویل: ماته خو له قرآن کریم څخه تاته کوم حق نه معلومېږي او نه مې د رسول الله ﷺ څخه ستاسې په اړه څه اورېدلي دي؛ خو زه به له خلکو پوښتنه وکړم، نو پوښتنه یې چې وکړه، مغیره بن شعبه ﷛ ولاړ شو، شاهدي یې وویل، چې رسول الله ﷺ (نیا) ته شپږمه برخه ورکړې، نو ابوبکر ﷛ وویل: بل څوک درسره شاهد وو؟ او یا چا دا اورېدلي؟ نو محمد بن مسلمه ولاړ شو او شاهدي یې وویل، ابوبکر ﷛ هم شپږمه برخه ورکړه.[1]

**ابوبکر ﷛ ته په راتلونکو مسایلو د حکم طریقه:**

ابو عبیده په کتاب القضاء کې وایي، چې ماته کثیر بن هشام، هغه د جعفر بن برقان، هغه د میمون بن مهران څخه روایت کړی، چې وایي، کله چې به ابوبکر ﷛ ته یوه مسئله راغله، نو قرآن کریم کې به یې وکتل، که چېرې به یې هغه څه چې ده یې په اړه پرېکړه کوله پکې پیدا کړه، نو هغسې پرېکړه به یې وکړه او که چېرې به ورباندې خبر نه و، نو له خلکو به یې پوښتنه کوله، چې آیا تاسو خبر یاست، چې په دې اړه رسول الله ﷺ څنګه پرېکړه کړې؟ نو زیات وختونه به یوه ډله ولاړه شوه او وبه یې ویل: هو، په دې اړه یې داسې او هغسې پرېکړه کړې ده، نو که چېرې به یې د رسول الله ﷺ سنت هم پیدا نه کړل، نو مشران خلک به یې جمع کړل او مشوره به یې ترې وغوښتل؛ نو کله چې به د هغوی نظر په یو شي یو ځای شو، هغسې پرېکړه به یې وکړه.[2]

**د مظالمو او حسبه‌وو قضاء:**

د مظالمو د قضاء څخه موخه د والیانو، امیرانو، مشرانو، د نفوذ او د منصب څښتنانو محاسبه ده، کله چې د دوی له جملې د یوه څخه د ولس او یا د بیت المال اړوند ظلم صادر شي، یا ځینې پر ځینو نورو تېری وکړي، یا د شرعي احکامو په تطبیق کې تجاوز وکړي، یا د واک څخه ناوړه ګټه پورته کړي او یا د عامه ګټو په ثابتولو کې ځان ګوښه کړي.

او د حسبه‌وو قضاء څخه هدف په نېکیو امر او له بدیو څخه منعه ده، تر څو شرعیت او دین پلی، اسلامي آداب او احکام تطبیق شي.

د ابوبکر ﷛ په دوره کې د مظالمو او حسبه‌وو قضاء شتون خپلواک او ځانګړی نه و؛ بلکې دا په ټوله راشده خلافت کې همدغسې و، خو دا معنی نه ورکوي، چې دا دوې دندې ځنډول شوې وې؛ ځکه دا دوې دندې د ولایت او عامې قضاء دنده کې موجودې وې.

ابوبکر ﷛ په ښارونو کې د والیانو، جګړو کې د لښکر مشرانو او د ولس منځ کې د دوی په حالاتو یې ځان خبرولو او چارې یې څارلې، لکه څرنګه چې یې په لومړنۍ خطبه کې، چې په مسجد کې عام بیعت ورسره کېدو، وویل: «أما بعد، اې خلکو! بې شکه زه ستاسو امیر ټاکل شوی یم، مګر تر تاسو غوره نه یم، نو که چېرې ما ښه کار کاوه، زما مرسته وکړئ او که غلط شوم، نو ما اصلاح کړئ، رښتینولي امانت ده او درواغ خیانت دي، په تاسو کې کمزوری زما په نزد سره قوي دی، تر څو ده ته خپل حق ورکړم (ان شاء الله تعالی) او قوي په تاسو کې زما په نزد کمزوری دی، تر څو له ده څخه حق اخلم (ان شاء الله تعالی)، داسې قوم نشته چې جهاد یې دې پرېښی وي او الله په ازموینو نه وي اخته کړي او داسې قوم نه شته چې بدکاری په کې خپرې شي، مګر الله تعالی په کې ازموینې عامې کړي، د الله او د هغه د رسول ﷛ پیروي اړوند زما اطاعت وکړئ، که چېرې مې د الله او د هغه د رسول ﷛ نافرماني وکړه، نو بیا زما اطاعت پر تاسو لازم نه دی».[3]

---

١ - رواه أحمد بن علي المروزي في مسند أبي بكر، رقم:١٢٩.

٢ - اعلام الموقعين: ١:٤٩.

٣ - الثقات لابن حبان:٢:١٥٧.



نویسنده: اجمل «ذهین»[۱]

## مقدمه به قواعد فقهی

الحمدلله الذی أنزل القرآن، خلق الإنسان، علمه البیان، والصلاة والسلام علی أفصح خلقه لساناً، وأبلغهم کلاماً، وأکملهم بیاناً، وعلی آله وأصحابه أجمعین.

قال الله تبارك و تعالی «لَقَدْ أَرْسَلْنَا رُسُلَنَا بِالْبَيِّنَاتِ وَأَنْزَلْنَا مَعَهُمُ الْكِتَابَ وَالْمِيزَانَ لِيَقُومَ النَّاسُ بِالْقِسْطِ وَأَنْزَلْنَا الْحَدِيدَ فِيهِ بَأْسٌ شَدِيدٌ وَمَنَافِعُ لِلنَّاسِ وَلِيَعْلَمَ اللَّهُ مَنْ يَنْصُرُهُ وَرُسُلَهُ بِالْغَيْبِ إِنَّ اللَّهَ قَوِيٌّ عَزِيزٌ»[۲].

قواعد فقهی از اهمیت خاصی در بین علمای جهان اسلام برخوردار بوده است و اکثراً در محاکم شرعی غرض حل و فصل بصفت قانون از آن کار گرفته شده است، قواعد فقهی بسیاری وجود دارد که هر یک قاعده ای ضابطه مند و جامع دارد و نیز در بردارندهٔ مسایل فقهی بسیار است؛ فقهاء با بررسی و پژوهش در مسایل فقهی و فروع آن قواعد فقهی را استخراج میکنند و هر مجموعه را به قاعده ای کلی ارجاع میدهند که حکم آن بر تمام یا اکثر مسایل جزئی متشابه جاری و ساری است.

اولاً تعریف قواعد

**أ_ تعریف قواعد در لغت:**

قواعد جمع قاعده بوده و به معنای اصل و اساس است.( قواعد بیت، بنا آن اساس و پایه آن است). معنای قاعده از (قعود) یعنی ثبات و استقرار گرفته شده است. چنانچه در آیت قرآن کریم آمده است: «وَإِذْ يَرْفَعُ إِبْرَاهِيمُ الْقَوَاعِدَ مِنَ الْبَيْتِ وَإِسْمَاعِيلُ رَبَّنَا تَقَبَّلْ مِنَّا إِنَّكَ أَنْتَ السَّمِيعُ الْعَلِيمُ »[۳].

ترجمه: و به یاد آورید زمانی را که ابراهیم و اسماعیل پایه های کعبه را بالا بردند و می گفتند: خدایا ! از ما قبول کن؛ زیرا که تو شنوا و دانایی.

و همچنان در آیت دیگری خداوند متعال میفرماید: «قَدْ مَكَرَ الَّذِينَ مِنْ قَبْلِهِمْ فَأَتَى اللَّهُ بُنْيَانَهُمْ مِنَ الْقَوَاعِدِ فَخَرَّ عَلَيْهِمُ السَّقْفُ مِنْ فَوْقِهِمْ وَأَتَاهُمُ الْعَذَابُ مِنْ حَيْثُ لَا يَشْعُرُونَ»[٤].

ترجمه: آنانکه پیش از آنها بودند نیرنگ کردند و خدا بنیانشان را از پایه ویران نمود وسقف بر سرشان از بالا فرو ریخت و عذاب از آنجایی که احساس نمی کردند، بر سر شان آمد.

تعریف لغوي قواعد را چنین نموده اند: «القواعد جمع قاعدة، والقاعدة في اللغة الأساس، مأخوذ من القعود بمعنی الثبات»[٥].

**ب _تعریف قواعد در اصطلاح:**

قواعد فقهی تعریفات متعدد دارد، شاید تعریف جامع و مانع آن عبارت باشد از: قواعد فقهی عبارتند از حکم کلی که بر تمامی جزئیاتش منطبق است تا احکام شناخته شود. مثلاً قاعده (عقد باطل هیچ گونه اثری ندارد).

حکمی کلی است که بر عقود باطل معین تطبیق میشود و میگویم این عقد اثری ندارد، چون باطل است یا آن اجاره اثری ندارد، چون باطل است.

• (حکم کلی ینطبق علی جمیع جزئیاته أو معظمها، لتعرف أحکامها منه، مثل الضرر یزال، والیقین لا یزال بالشك ) حکم کلی که بر تمامی جزئیاتش منطبق است تا احکام شناخته شود.

• ( قضیة کلیة یتعرف منها احکام جزئیات موضوعها) قضیه ای کلی که احکام موضوعات جزئی مربوطه از آن فهمیده می شود.)

• (اصول فقهیة کلیة في نصوص موجزة دستوریة تتضمن احکاماً تشریعیة عامة في الحوادث التي تدخل تحت موضوعها). اصولی کلی فقهی است که در متون موجز قانونی

---

۱ - آمر اسناد و ارتباط ریاست تحریرات مقام ستره محکمه.

۲- [سورة الحدید ۵۲]

۳ - سورة البقرة ۱۲۷.

٤ - سورة النحل۲٦.

٥ - ص (۸) کتاب القواعد الفقهیه تاریخها و أثرها فی الفقه / تألیف دوکتور محمد بن حمود الوایلی.

آمده، احکام عام و کلی تشریعی در باره ای رخدادهایی را دربردارد که موضوع هر یک از احکام کلی است).
• ( قضية كلية تنطبق على جميع جزئياتها أو أكثرها تعرف منها احكمها) قضیه ای کلی که قابل انطباق بر تمامی یا اکثر جزئیاتش است و احکام آن ها بدین وسیله معلوم میگردد .
• (تشمل على حكم شرعي عام، يستفاد من تطبيقها الحصول على احكام العام) دربردارنده حکم کلی شرعی است که با اجرای آن، بر احکام جزئی شرعی که مصادیق آن حکم کلی است، دست می یابیم.
• (الحكم الفقهي المندرج تحته فروع مختلفة من باب واحد) حکم فقهی که فروع مختلفی از یک باب را دربر دارد.
• ( كبرى قياس يجري في أكثر من جمال لاستنباط حكم فرعي وجزئي أو وظيفة لذلك) کبرای قیاس که در بیشتر مواقع برای استنباط حکم فرعی و جزئی شرعی جاری میشود یا تعیین وظیفه و فعل مکلف.
• ( أحكام كلية تندرج تحت كل منها مجموعة من المسائل الشرعية المتشابهة من أبواب شتى) احکام کلی که مجموعه مسایل شرعی مشابه در چندین باب تحت آن ها مندرجند.
• (الاصل الكلي الذي ثبت من أدلته الشرعية و ينطبق بنفسه على مصاديقه، انطباق الكلي و الطبيعي على مصاديقه) اصلی کلی که با ادله شرعی ثابت شده و به گونه انطباق کلی و طبیعی، بر مصادیق خود قابل اجراء است.
• (مجموعة من الاحكام المتشابهة التي ترجع الى قياس واحد يجمعها أو ضابط فقهي يربطها) مجموعه احکام مشابه که خاستگاه قیاس یا ضابطه ای فقهی دارد.

**نتیجه تعریفات:**

قاعده فقهی در بردارنده احکام مشابه در مورد مسایل جزئی مشابه است، مانند قاعده (الضرر يزال ) حکم در این قاعده وجوب ازاله ضرر است، یعنی هر مسئله جزئی که ضرر توجیه ناپذیر دارد حکم وجوب ازاله بر آن منطبق است.
به کار گیری قواعد فقهی، کار فقیه را آسان میکند و به کارگیری آن ها سودمندتر از به کارگیری فروع جزئی است.
قواعد فقهی راهکارهای مفید دارد که فقیهان ارائه داده اند و بسیار موفقیت آمیز بوده است.
منابع شریعت اسلامی، مصادر و مستندات آغازین و اساس پیدایش قواعد فقهی شمرده میشود.

**منابع قواعد فقهی:**[۱]

**اول : قرآن کریم**

قرآنکریم قواعد بسیاری را دربردارد که از آغاز شریعت، حدود و قواعدی وضع کرده و أهداف اسلام را در زمینه أحکام و قوانین و تشریعات وضع شده برشمرده مانند:
١_ « لَا يُكَلِّفُ اللَّهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا»[٢].
٢_ « يُرِيدُ اللَّهُ بِكُمُ الْيُسْرَ وَلَا يُرِيدُ بِكُمُ الْعُسْرَ»[٣].
٣_ « وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ»[٤].
٤_ « لَا إِكْرَاهَ فِي الدِّينِ قَدْ تَبَيَّنَ الرُّشْدُ مِنَ الْغَيِّ»[٥].
٥_ « مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ» [٦].
٦_ « وَلَا تَزِرُ وَازِرَةٌ وِزْرَ أُخْرَى» [٧].
٧_ « فَمَنِ اضْطُرَّ غَيْرَ بَاغٍ وَلَا عَادٍ»[٨].

**دوم سنت:**

احادیث پیغمبر اکرم (صلی الله علیه وسلم) منبع دوم قواعد فقهی به شمار میرود، قواعد فقهی را صاحب شریعت حضرت محمد (صلى الله عليه وسلم) که مؤید بجوامع کلام بوده در سخنان گهربار خویش بیان نموده که بطور مثال میتوان در این باب سخنان موجز پیغمبر اکرم را بر شمرد و قواعد فقهی ذیل را نام برد:
١_ «إنما الاعمالُ بالنيات، وإنما لكل امرئٍ ما نوى، فمن كانت هجرته الى الله و رسوله فهجرتُهُ الى الله و رسوله، ومن كانت هجرتُهُ لدُنيا يُصيبها، أو امرأة ينكحها، فهجرتُهُ الى ما هاجر اليه»[٩].
این حدیث یک قاعده ای اصیل است و مصادیق زیر را دارد:
**اول:** ( الامورُ بمقاصدها )کار ها بمقاصد آن مربوط ست. یعنی حکم که به امری مرتب میگردد، مقتضای مقصد آن

---

١- قواعد فقهیه عامه، ج ٨، ص ٢٤٢.

٢- [سورة البقرة٢٨٦]

٣- [سورة البقرة ٥٨١]

٤- [سورة البقرة ١٩٥]

٥- [سورة البقرة ٦٥٢]

٦- [سورة الحج ٦]

٧-[سورة الأنعام ٤٦١]

٨-[سورة البقرة ٣٧١ و سورة الأنعام ٥٤١]

٩- [رواه الامام بخاري و مسلم في صحيحيهما]

رجعت داده شود، و یا به عبارت دیگر اعتبار و ارزش امور به اهداف آن است.

**دوم:** (العبرةُ في العقودِ للمقاصدِ والمعاني لا للالفاظِ والمباني) اعتبار و ارزش عقود به مقاصد و معانی آن است نه الفاظ و مبانی آن و به عبارت دیگر عقود به معانی و مقاصد آن مربوط است نه به الفاظ و حروفکه به آن تلفظ میشود.

**سوم:** (لا ثواب الا بالنية) ثواب و پاداش منوط به نیت است.

٢- عن أبي سعيد الخدري (رضي الله عنه) أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قال: (لا ضَرَرَ ولا ضِرَارَ).

ترجمه: ضرر رساندن و مقابله ضرر به ضرر جواز ندارد.

این حدیث شریف دربردارنده مصادیق ذیل است:

**اول:** ( الضرر يُزال) یعنی ضرر باید از بین برود و ازالت شود، و به عبارت دیگر ضرر دفع میشود.

**دوم:** (الضرر لا يزال بمثله) یعنی ضرر بمثل ضرر دفع نمیشود و ضرر به مثل خود زائل نمیشود.

**سوم:** (الضروراتُ تبيح المحظورات) یعنی ضرورتها چیزهای ممنوع را مجاز قرار میدهد، و یا گر ضرورت بود روا باشد.

٣_ ( الخراج بالضمان) این قاعده جز از حدیث شریف ذیل است:

ما جاء عن عائشة رضي الله عنها – قالت: أنَ رجلاً ابتاعَ غلاماً فَأَقامَ عنده ماشاء الله أن يُقيمَ ثُم وَجَدَ به عيباً فَخَاصَمَهُ الى رسولِ الله- صلى الله عليه وسلم- فَرَدَّ عليه، فقال الرجل : يا رسولَ الله قد اِستَغَلَ غلامي، فقال رسول الله صلى الله عليه وسلم ( الخرَاجُ بالضَمَانِ)[1] .

الخراج بالضمان یعنی منافع عین تابع ملکیت عین است، هرکس مالك عین است مالك منافع آن هم میباشد،که در این باره میتوان گفت: غله و محصول و بدل و اجاره، عوض ملک است؛ اگر تلف شود از ملکیت خارج شده.

٤- (الغرم بالغنم) : غرامت در برابر غنیمت است یعنی کسیکه از چیزی منفعت میگیرد، باید غرامت آنرا بپردازد و ضرر آن را تحمل نماید.

٥_ ( البينةُ على مدعى، و اليمينُ على مَنْ أَنكر ) . ترجمه : شاهدان بر مدعی و قسم بر منکر است.

عن ابن عباس (رضي الله عنهما) : «أن رسول الله صلى الله عليه وسلم قَالَ: ( لو يعطى الناس بدعواهم، لادعى رجالٌ أموال قومٍ ودماءهم، لكن البينة على مدعى، و اليمين على من أنكر »ٍ. [حديث حسنٌ، رواه البيهقي]

ترجمه: ابن عباس (رضي الله عنهما) روایت نمودند که رسول الله (صلى الله عليه وسلم) فرمودند: اگر به مردم (تنها) بنا بر ادعاهایشان (هرآنچه را که مدعی اند) داده شود هر آیینه مردانی اموال قومی و خونهایشان را ادعا می نمودند، و لیکن آوردن گواه بر مدعی( برای اثبات ادعایش ضروری) است، و قسم بر کسیکه انکار نموده (برای اثبات حقش ضروری) است.

بعد از عصر رسالت در کتاب «کتاب الخراج» امام ابی یوسف رحمه الله بیشترین این قواعد را در میابیم مانند: (کل من مات لا وارث له، فماله لبيت المال) هر کسیکه بمیرد و وفات نماید در حالیکه وارث نداشته باشد پس مال او از بیت المال و مربوط به بیت المال مسلمین میگردد و قاعده دیگری از امام ابی یوسف است: (ليس للامام أن يخرج شيئا من يد أحدٍ الا بحق ثابتٍ معروف).

ترجمه: قاضی نباید چیزی را از ذوالیدی کسی خارج نماید بدون حق ثابت و شناخته شده.

پس گفته میتوانیم که قواعد فقهی گنجینه پر بها و با ارزش فقه اسلامی است بشکل کلی و به یکبارگی وضع نشده است طوریکه برای کسانیکه در این عرصه و حقل سروکار دارند بهتر واضح و هویدا میباشد که قواعد فقهی تدریجاً ادوار و اطوار خود را طی نموده و به شگوفایی و ازدهار خود رسیده است مانند اصول فقه و بقیه علوم دیگر .[2]

**أهم المراجع و المصادر:**


١_القرآن الكريم

٢_ الحديث النبوي الشريف

٣_ معجم لسان العرب ابن منظور

٤_ القواعد الفقهية تاريخها و أثرها في الفقه، تأليف الدكتور محمد بن حمودالوئلی الطبعة الاولى١٤٠٧هـ_ ١٩٨٧م

٥_ الأشباه و النظائر لامام السيوطي( شيخ جلال الدين عبدالرحمن السيوطي المتوفي ٩١١هـ .

٦_ كتاب الخراج لأبي يوسف.

٧_ الأشباه و النظائر على مذهب أبي حنيفة النعمان للشيخ زين العابدين ابن نجيم الحنفي المتوفي٩٧٠هـ.

٨_ البداية و النهاية لابن كثير: اسماعيل بن عمر المتوفي ٧٧٤هـ.

٩_ نشأة القواعد الفقهية و تدوينها، أبو الكلام شفيق القاسمي المظاهري شبكة الألوكة.

١٠- مجموعه قواعد و مسائل فقهي مجلة الاحكام طبع دوم – سنبله ١٣٨٤ه.ش.


---

١- [رواه أبو داود و الترمذي و ابن خزيمة وابن حبان والحاكم وغيرهم من أهل الحديث]

٢ - ص (٢٥) كتاب القواعد الفقهيه تاريخها و أثرها فى الفقه.

# تزویر د شریعت او قانون له نظره

لیکوال: حافظ مولوي دلاور «طارق»[۱]

لکه څنګه چې انسانان په ټولنیز ژوند کې د یو بل سره معاملاتو، عقودو او تعهداتو ته اړتیا لري، همدغسې په خپلو معاملاتو او عقودو کې عدل، انصاف او رښتیا ویلو ته هم اړتیا لري.

شریعت ټولې هغه لارې نامشروع ګرځولې دي چې په اساس یې د یو انسان فردي، ټولنیز او قانوني مشروع حقوق ضایع کېږي او یا د ټولنې علیا مصالح د خطر او ضیاع سره مواجه کېږي.

دا چې په نن زمانه کې د خلکو تر منځ ډېری معاملات د رسمي او غیر رسمي سندونو، خطونو او مستنداتو په توسط اجرا کېږي، بل طرف د تزویر لپاره ډول ډول ډیجیټل آلات شتون لري؛ نو جعلکاران د دغو پرمختللو آلاتو او نورو ګټورو تکتیکونو څخه په استفاده د خلکو د حقونو د ضایع کولو او یا د عامه مصالحو د اخلال لپاره په رسمي او غیر رسمي سندونو کې تزویر کوي.

جعلکاران او فرېبکاران د تزویر په واسطه د رسمي او غیر رسمي اداراتو کارونه او همدارنګه د خلکو معاملات له ډول ډول خنډونو او مشکلاتو سره مخ کوي، له همدې امله مو اړینه وبلله چې د تزویر په اړه هر اړخیزه مقاله ولیکو، چې یاده مقاله په لاندې عنوانونو مشتمله ده:

۱- د تزویر لغوي، شرعي او قانوني تعریف.

۲- د تزویر ډولونه.

۳- د تزویر شرعي حکم او سزا.

## لومړی بحث: د تزویر لغوي تعریف

تزویر یا د تزویرالصدر نه مشتق دی چې په لغت کې میلان او کوږوالي ته ویل کېږي، لکه په قرآنکریم کې راځي: «تزاور عن کهفهم».[۱] او یا د زور نه مشتق دی چې په لغت کې درواغو ته ویل کېږي، لکه په حدیث کې راځي: «الا وشهادة الزور».[۲]

ځینې اهل لغت یې داسې تعریف کوي: «محاولة تزییف الکذب، وطمس الحقیقة والباس الباطل ثوب الحق».

ژباړه: درواغو ته رنګ ورکول، حقیقت پټول او باطل ته د حق جامه اغوستل.

ځینې یې بیا داسې تعریف کوي «هو التمویه من موّه الحدید أي طلاه بالذهب لیظهر أنه ذهب» یعنې ساده اوسپنې ته د سرو زرو اوبه ورکول تر څو د سرو زرو په بڼه ښکاره شي.[۳]

۱ - سورة ا لکهف ۱۷.

۲ - رواه البخاري۲۶۵۳.

۳ - لسان العرب/۴/۳۳۳.

۱-د ننګرهار د شینوارو ولسوالۍ د ابتدائیه محکمې رئیس

**د تزویر شرعي تعریف:** علماوو د تزویر بېلابېل تعریفونه کړي دي چې تر ټولو کامل او شامل تعریف يې په دې ډول دی: «وهو تحسين الشيء و وصفه بخلاف صفته حتى يخيل إلى من سمعه أو رآه أنه بخلاف ما هو به، فهو ميل عن الحق وتمويه الباطل بما يوهم أنه حق، و مثاله ما يكون في مشابهة خط الغير، فيظن أنه خطه، كما يقع في الحجج المزورة».[1]

ژباړه: تزویر د یو شي ښایسته کول او په داسې صفت يې موصوف کول چې دغه صفت په کې موجود نه وي تر دې چې اورېدونکي او لیدونکي ته د حقیقت خلاف ښکاره شي، نو تزویر د حق څخه کوږوالي او باطل ته داسې رنګ ورکولو ته ویل کېږي چې د حق ګمان وربانديې وشي.

**د تزویر قانوني تعریف:** «تغيير الحقيقة بقصد الغش، وبإحدى الطرق التي عينها القانون، تغييرًا من شأنه أن يسبب ضررًا»

ژباړه: د دوکې په پار او یا پر یوې لار د هغو لارو چې قانون ټاکلې وي، په حقیقت کې داسې تغیر راوستل چې د زیان سبب وګرځي.[2]

**دویم بحث: د تزویر ډولونه**

په ټوله کې تزویر دوو ډولونو ته تقسیمېږي:

۱: مادي تزویر؛

۲: او معنوي تزویر.

**لومړی مادي تزویر:** مادي تزویر دې ته ویل کېږي چې د سند په حقیقت کې په مادي ډول داسې تغیر راشي چې په سترګو لیدل کېږي، برابره خبره ده چې دغه تغیر د سند د لیکل کېدو په وخت کې او که د سند د لیکلو څخه وروسته رامنځته شوی وي.

مادي تزویر بیا دوو ډولونو ته تقسمېږي:

۱: جزئي تزویر.

۲: کلي تزویر.

جزئي تزویر دې ته ویل کېږي چې د سند په ځینو برخو کې تزویر رامنځته شوی وي، لکه: په یو سند کې نقطه، کلمه، حرف، عدد او نور زیات شوي او یا حذف شوي وي او یا د سند په اول یا اخیر کې زیادت شوی وي، یا پردی مهر او پردی ګوته لګول شوې وي. همدارنګه په سند کې د وایټر استعمال یا په نورو معاصرو آلاتو باندې د سند محتویات له منځه وړل شوي او یا زیات شوي وي.

مادي کُلي تزویر دې ته ویل کېږي چې په ټول سند کې تزویر رامنځته شوی وي، لکه نقل کول، کاپي کول، سکن کول او یا د بل چا د خط مشابه د هغه په نوم خط لیکل او داسې نور.

**د مادي تزویر ځینې بڼې په لاندې ډول دي:**

(۱) پردی ګوته، دستخط او مهر لګول: یعنې چې تزویر کوونکی د ګوتې، دستخط او مهر نسبت داسې شخص ته وکړي چې د هغه څخه نه وي صادر شوي، برابره خبره ده چې دغه ګوته تزویرکوونکي په درواغو لګولې وي او یا یې د هغه څخه په دوکه لګولې وي.

(۲) د سند په متن، دستخط او مهر کې تغیر راوستل او یا د کلماتو زیاتول: یعنې د اصل سند په متن، دستخط او یا په مهر کې د لیکلو څخه وروسته تغیر راولي او نسبت یې داسې یو شخص ته وکړي چې په حقیقت کې دغه متن د هغه څخه نه وي صادر شوی.

**دغه تغیر په درې ډوله رامنځته کېږي.**

۱- په سند کې زیادت کول، مثلاً: د سند په بیاض کې زیادت ځای پر ځای شي او یا د کرښو په منځ کې داسې زیادت وشي چې د سند د لیکلو په وخت کې نه وي، دغه تغیر دکلماتو، حروفو او یا د ارقامو په زیادت سره رامنځته کېږي.

۱ - جامع البيان عن تأويل اى القرآن المعروف بتفسير الطبري ۳۰ ج، دار الفكر، بيروت.

۲ - جرائم التزييف والتزوير في ضوء الفقه والقضاء برقم ۱۷۰۹۵.

۲- د سند څخه یو څه حذف کول: یعنې د سند څخه حرف، کلمه یا عدد وغیره حذف کړل شي، یا وسولول شي او یا غوڅ کړل شي.

۳- په سند کې تعدیل کول: مثلاً د سند څخه یو شی حذف کړل شي او پر ځای یې بل شی ور زیات کړل شي.

(۳) په سند کې نوم او یا انځور بدلول: مثلاً په سند کې د یو شخص انځور لګېدلی وي، هغه د سند څخه لرې کړي او پر ځای یې د بل چا انځور ولګوي او یا په همدې ډول په نوم کې بدلون راولي او یا مثلاً په سند کې د یو شخص حضور ضرور وي هغه په حقیقت کې غائب وي خو په سند کې حاضر ولیکل شي.

(۴) اصطناع: یعنې چې یو سند له بېخه په جعلي ډول جوړ شوی وي او په ټولو برخو مشتمل وي، برابره خبره ده چې د اصل سند سره مشابه وي او که نه وي او برابره خبره ده چې حقیقت پکې لیکل شوی وي او که درواغ؛ مثلاً: یو کس په مطبعه کې داسې سند جوړ کړي چې مشخص کارونه پرې مرتب کېږي او یا د یو شي د اثبات لپاره ترې کار اخیستل کېږي.

(۵) تقلید: یعنې چې یو سند جعلي جوړ شوی وي خو شکل، متن، لاسلیک، مهر او نور یې د اصلي سند څخه رانقل شوي وي او یا د یو چا د خط مشابه خط ولیکل شي او هغه ته منسوب شي.

**دویم معنوي تزویر:** معنوي تزویر دې ته ویل کېږي چې د سند په حقیقت کې غیر مادي تغیر راشي، یعنې داسې تغیر رامنځته شي چې اثر یې په سند کې په سترګو نه لیدل کېږي؛ بلکې د سند د لیکلو پر مهال د سند په محتویاتو کې د سند د لیکونکي له طرفه غیر حقیقت او درواغ ولیکل شي.

یا په بل تعبیر معنوي تزویر دې ته ویل کېږي چې په سند کې غیر حقیقت د حقیقت په شکل او درواغ د رښتیا په شکل ولیکل شي او دغه تزویر فقط د لیکلو په وخت کې رامنځته کېدلای شي، له همدې وجې د دې تزویر معلومول د مادي تزویر څخه سخت دي او د مادي او معنوي تزویر ترمنځ توپیر همدا دی چې معنوي تزویر فقط د لیکلو په وخت کې د محرر له طرفه رامنځته کېدلای شي او مادي تزویر د محرر او همدارنګه د لیکلو څخه وروسته د بل چا له طرفه هم رامنځته کېدلای شي.

**د معنوي تزویر صورتونه:**

۱- (تغیر في اقرار المقر): دغه تزویر په رسمي او غیر رسمي سندونو کې راتللی شي، یعنې چې محرر په سند کې د اقرار کوونکي په اقرار کې تغیر راولي او یا یو کس د سند په محتویاتو پوه نکړل شي او ګوته ترې ولګول شي.

۲- (جعل واقعة مزور في صورة واقعة صحیحة مع العلم بتزویره): یعنې په سند کې د رښتیا او حقیقت په شکل درواغجنه او غیرحقیقي واقعه لیکل او درج کول، مثلاً: محقق د تفتیش په جریان کې د تفتیش په پاڼو کې ولیکي چې له مجرم سره اسلحه نیول شوې ده، په داسې حال کې چې د مجرم سره په حقیقت کې اسلحه نه وي نیول شوې، اګر که په سند باندې حقیقي لاسلیک شوی وي، دغه تزویر هم په رسمي او غیر رسمي دواړو سندونو کې کېدلای شي.

۳- (جعل واقعة غیر معترف بها في صورة واقعة معترف بها): یعنې په سند کې اعتراف ولیکل شي په داسې حال کې چې په حقیقت کې اعتراف نه وي شوی، مثلاً: په سند کې ولیکل شي چې متهم د قتل په جرم باندې اعتراف او اقرار وکړ؛ خو په حقیقت کې یې اقرار نه وي کړی.

۴- (انتحال شخصیة الغیر أو استبدالها أو الاتصاف بصفة غیر صحیحة): یعنې پردی شخصیت خپلول یا شخصیت بدلول او یا یو کس په غیر صحیح صفت باندې موصوف کول، لکه په سند کې د غائب شخص پر ځای حاضر شخص ولیکل شي، برابره خبره ده چې دغه بل نوم د حقیقي شخص وي او که هسې خیالي وي او یا په غیر صحیح صفت موصوف کړل شي، مثلاً: احمد په سند کې د محمود وکیل معرفي کړي او په حقیقت کې یې وکیل

نه وي، یا په اهلیت کې تغیر راولي مثلاً: یو کس محجور علیه وي او په سند کې د کامل اهلیت څښتن ولیکل شي.

## دریم بحث: د تزویر حکم

دا چې هر ډول تزویر په شهادة الزور مشتمل وي نو په شریعت کې په درواغو گواهي ورکول له لویو گناهونو څخه شمېرل کېږي، لکه: په قرآنکریم کې الله تعالی فرمايي: «فاجتنبوا الرجس من الاوثان واجتنبوا قول الزور».[۱]

همدارنگه رسول الله (صلی الله علیه وسلم) فرمايي: «الا انبئکم باکبرالکبائر ثلاثاً قالوا بلي یا رسول الله، قال: الاشراک بالله، وعقوق الوالدین وجلس وکان متکئاً فقال الا وقول الزور».[۲]

ژباړه: ایا تاسو ته تر ټولو په سترو گناهونو خبر نه درکوم؟ درې ځل يې دا خبره وکړه، هغوی (صحابه رضي الله عنهم) وویل: هو! اې د الله رسوله! هغه (رسول الله صلي الله علیه وسلم) وویل: د الله تعالی سره شریک پیداکول او د مور او پلار نافرماني کول، بیا رسول الله (صلي الله علیه وسلم) تکیه وکړه، کېناست او ویې ویل: خبردار! د درواغو وینا کول.

**د تزویر عقوبت او سزا:** تزویر په هغه وخت کې جرم او د سزا وړ بلل کېږي چې لاندې امور پکې موجود وي:

۱- تزویر کوونکی به په خپل تزویر سره په حقیقت کې تغیر راوستلی وي.

۲- محل د تغیر به رسمي یا غیر رسمي سند وي.

۳- دغه تغیر به په مادي یا معنوي ډول د قانون خلاف ترسره شوی وي.

۴- دغه تغیر به عام یا خاص ضرر پېښوونکی وي یعنې یا به عمومي مصالحو ته پکې ضرر وي او یا ځانگړي شخص ته، برابره خبره ده چې في الحال ضرر وي او که احتمال د ضرر ولري.

۵- د تزویر کوونکي به د جنایت قصد وي.

که په تزویر کې پورته شرطونه موجود وي نو تزویر کوونکی د سزا مستحق دی، البته په سزا کې يې اختلاف دی، جمهور فقهاء (مالکیان، شوافع، حنابله او د احنافو څخه صاحبین رحمهم الله) وايي چې تزویر کوونکي ته به تعزیري سزا (وهل، بندي کول، تشهیر او شړل) ورکول کېږي، ترڅو خلک د ده د ضرر څخه په امن شي، البته تعزیر يې د امام رایې ته مفوض ده چې د مجرم حالت او د جرم نتیجې ته په کتلو به تعزیر ورکول کېږي.[۳]

او احناف فقهاء وايي: تزویر کوونکي ته به تعزیر بالضرب نه؛ بلکې فقط تشهیر ورکول کېږي؛ ځکه په تشهیر سره انزجار رامنځته کېږي او خلک ورسره په امن کېږي او همدا بسنه کوي.[٤]

لنډه دا چې د راجح قول مطابق تزویر کوونکي او د علم با وجود د تزویري سندونو استعمالوونکي د تعزیري سزا وړ دي، له همدې وجې د افغانستان اسلامي امارت سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست له لوري په رسمي سندونو کې د تزویر د سزاگانو په اړه (۲۱ تاریخ/۲۰ جمادي الاولی ۱۴۴۵ هـ ق) نمبر متحدالمآل خپور شوی دی، چې په یاد متحدالمآل کې د تزویر کوونکو او همدارنگه د علم باوجود د تزویري اسنادو د استعمالوونکو لپاره سزاوې ټاکل شوې دي.

---

۱ - سورة الحج ۳۰.

۲ - رواه البخاري برقم ۲٦۳۴.

۳ - المهذب/۳۲۹/۲.....المغني لابن قدامه/۲۳۳/۱۰.

٤ - المبسوط للسرخسي /۱۴۵/۱٦) بدائع الصنائع /۲۸۹/٦) حاشیه ابن عابدین /۲۳۸/۷)، په فتح القدیر کې د صاحبینو قول ته ترجیح ورکړل شوې ده:البحرالرائق/۱۲۵/۷.

# غلا او مسائل يې

## دويمه برخه

ليکنه: مولوي عبدالکريم «الکريمي[1]»

**دويم بحث: د غلا شرطونه:**

د غلا شرطونه د متعلق په اعتبار پر څلور ډوله دي: [2]
ځينې يې د سارق اړوند دي.
ځينې يې د مسروق منه اړوند دي.
ځينې يې د مسروق (مال) اړوند دي.
او ځينې يې د مسروق فيه (ځای) اړوند دي.

**لومړی: د سارق اړوند شرطونه:**

د سارق اړوند د غلا پنځه شرطونه دي، که په سارق کې راټلونکي پنځه شرطونه موجود شي حد پرې جاري کېږي: [3]
سارق به اهليت لري (بالغ، عاقل او د اسلام د احکامو التزام کوونکی به وي)، پر ماشوم، لېوني، معتوه، نائم، بېهوښه او هغه نشه کوونکی چې په نشه کولو روږدی نه وي د غلا حد نه جاري کېږي، البته د مسروق مال ضمان ورباندې شته. همداسې په حربي کافر او هغه مستأمن چې د مستأمن څخه غلا وکړي حد نه جاري کېږي، البته که مستأمن د مسلمان يا ذمي څخه غلا وکړي، د امام ابو يوسف (رحمه الله) په اند حد پرې جاري کېږي او د طرفينو (رحمهما الله) په اند نه پرې جاري کيږي. همداسې په ګونګي او ړانده هم حد نه جاري کېږي. [4]
سارق به مسروق مال اصالتاً او مقصوداً را اخيستی وي، که

---

١- د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو رياست مدقق

٢ - بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (٧/ ٦٦): «وأما الشرائط فأنواع: بعضها يرجع إلى السارق، وبعضها يرجع إلى المسروق، وبعضها يرجع إلى المسروق منه وبعضها يرجع إلى المسروق فيه، وهو المكان.»

۲ بدائع الصنائع في ترتيب الشرائع (۷/ ۸۰): «وأما الذي يرجع إلى المسروق فيه، وهو المكان فهو أن تكون السرقة في دار العدل فلا يقطع بالسرقة في دار الحرب، ودار البغي؛ لأنه لا يد للإمام في دار الحرب، ولا على دار البغي، فالسرقة الموجودة فيهما لا تنعقد سببا لوجوب القطع، وبيان هذا في مسائل التجار، أو الأسارى من أهل الإسلام في دار الحرب إذا سرق بعضهم من بعض، ثم خرجوا إلى دار الإسلام فأخذ السارق لا يقطعه الإمام؛ لأنه لا يد للإمام في دار الحرب، فالسرقة الموجودة فيهما لم تنعقد سببا لوجوب القطع، فلا تستوفي في دار الإسلام، وكذلك التجار من أهل العدل في معسكر أهل البغي، أو الأسارى في أيديهم إذا سرق بعضهم من بعض.

ثم خرجوا إلى أهل العدل فأخذ السارق لم يقطعه الإمام؛ لأن السرقة وجدت في موضع لا يد للإمام عليه فأشبهت السرقة في دار الحرب، وكذلك رجل من أهل البغي جاء للإمام تائبا، وقد سرق من أهل البغي لم يقطعه؛ لما قلنا»

الفتاوى الهندية (۲/ ۱۷۶): «سَرَقَ بَاغٍ مِنْ تَاجِرِ أَهْلِ الْعَدْلِ بَيْنَهُمْ لَا يُقْطَعُ، كَذَا فِي التَّتَارْخَانِيَّةِ.»



# د سترې محکمې د قضائي تفتیش له عمومي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن (فراهي) صاحب سره د اسلامي عدالت ځانګړې خپرونه

بسم الله الرحمن الرحیم

**د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي رئیس محترم شیخ عبدالرحمن (فراهي) صاحب، له هر څه وړاندې اسلامي عدالت خپرونې ته درته هرکلی وایو او ډېره مننه کوو چې له ډېرو بوختیاوو سره سره مو موږ ته د دې خپرونې لپاره وخت راکړ.**

**۱- پوښتنه: محترم شیخ صاحب د خپرونې په پیل کې که د اسلامي عدالت خپرونې لوستونکو ته د سترې محکمې د قضائي تفتیش عمومي ریاست په اړه لنډ معلومات ورکړئ؟**

**ځواب:** تر ټولو د مخه د اسلامي عدالت خپرونې محترم مسؤول او لوستونکو ته خپل سلامونه او احترامات وړاندې کوم، خدای تعالی دې وکړي چې د روغتیا جامې مو په تن وي. ستاسو څخه ډېره مننه کوو چې موږ ته مو فرصت راکړ چې ستاسې له لارې له لوستونکو سره د سترې محکمې د تفتیش عمومي ریاست خدمتونه او دندې شریکې کړو.

ستاسو د لومړۍ پوښتنې په ځواب کې به ووایو، چې د سترې محکمې تفتیش عمومي ریاست د سترې محکمې اړوند یو ریاست دی، چې په خپل تشکیل کې یو رئیس، یو مرستیال، (۲۸) قضائي او مسلکي غړي او (۲۰) اداري او خدمتي کارکوونکي لري، چې د هېواد په (۳٤) ولایتونو کې د ټولو محاکمو د مسلکي، سلوکي، اداري او مالي چارو پلټنه کوي او خپل راټول شوي معلومات د راپور په بڼه له وړاندیز سره یو ځای، یوه کاپي د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) عالي مقام ته او یوه کاپي د سترې محکمې محترم عالي مقام ته وړاندې کوي.

دغه راز د تفتیش عمومي ریاست مفتشین ټولو ولایتونو او ولسوالیو له زندانونو او توقیف‌خونو څخه له نږدې لیدنه کوي، د بندیانو احوال له نږدې اخلي، د هغوی ستونزې او اصولي غوښتنې او اړتیاوې له ځان سره یادداشت کوي، وروسته یې لومړی د اړوند محاکمو او زندان له مسؤولینو سره شریکوي او هغوی ته یې په اړه لازمې لارښوونې کوي او ورپسې یې د سترې محکمې محترم عالي مقام ته له وړاندیز سره یوځای وړاندې کوي.

دغه راز د تفتیش عمومي ریاست یوې ځانګې د کندهار (جنوب لوېدیځ) زون د تمیز ریاست او قضائي معاونیت په مقر کې فعالیت کاوه؛ چې په دې وروستیو کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) او د سترې محکمې محترم رئیس او قاضي‌القضات (حفظه‌الله تعالی) په امر او هدایت د سترې محکمې له مرکزي تفتیش سره یو ځای او د دغه عمومي ریاست تر چتر لاندې یې فعالیت پیل کړ.

**۲- پوښتنه: محترم شیخ صاحب د قضائي تفتیش**

**عمومي رياست په اړه له معلوماتو شريکولو مو مننده وی يو؛ د خپرونې په دې برخه کې غواړو د سترې محکمې په تشکيل کې د قضائي تفتيش عمومي رياست د موجوديت په ارزښت هم راته ووایاست، ستاسو په نظر دغه رياست د سترې محکمې په تشکيل کې څومره مهم او اړين دی او د سترې محکمې د عالي مقام لخوا کوم مهم مسؤوليتونه ورسپارل شوي دي؟**

**ځواب:** ستاسو د دويمې پوښتنې په ځواب کې به ووايو، چې په هره اداره کې د تفتيش ځانګه د هغې ادارې د کارونو د لا ښهوالي، پرمختګ او ستونزو د مخنيوي لپاره اړينه ده، که په اداره کې تفتيش نه وي، هغه اداره د ضعف او فساد سره مخ کېږي؛ نو په دې اساس ويلای شو چې د سترې محکمې د تفتيش عمومي رياست د هېواد (٣٤) ولايتونو د محاکمو د اصلاح، کارونو او چارو د پرمختګ او ستونزو د حل لپاره ډېر اړين دی.

د سترې محکمې محترم عالي مقام لخوا د تفتيش عمومي رياست ته د خپلې کړنلارې له مخې دوه ډوله مسؤوليت سپارل شوی دی:

لومړی عادي تفتيش دی، چې په کال کې يو ځل د ټولو محاکمو مسلکي، سلوکي، اداري او مالي چارو پلټنه کوي.

دويم اقتضائي تفتيش دی، کله چې يو عارض د يوې محکمې يا د يوه غړي څخه شکايت وکړي، د سترې محکمې د عالي مقام تر هدايت او احکامو وروسته د تفتيش رياست لخوا د قضائي غړو څخه يو پلاوی ټاکل کېږي، ياد پلاوی د عارض د شکايت په موضوع کې هر اړخيزه پلټنه کوي، کله چې تر دقيقو پلټنو او څېړنو وروسته حقيقت معلوم شي، د سترې محکمې محترم مقام ته د راپور سره سم د ستونزې د حل وړانديز کوي.

**۳- پوښتنه: محترم شيخ صاحب، تاسو ته بهتره معلومه ده چې ستره محکمه په خپل تشکيل کې د قضائي تفتيش دوه رياستونه (د مرکزي تفتيش عمومي رياست او د جنوب لوېديځ زون د قضائي تفتيش رياست) لري، ايا دغه رياستونه د کاري استقامت او مسؤوليتونو له لحاظه برابر دي؟**

**ځواب:** ستاسو د درېيمې پوښتنې په ځواب کې به ووايو، چې د اسلامي امارت تر حاکميت وروسته د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) په هدايت د سترې محکمې په تشکيل د جنوب لوېديځ زون د (١٠) ولايتونو لپاره په کندهار کې يو د تميز رياست له قضائي معاونيت سره، د تفتيش رياست او د قضائي زده کړو رياست جوړ شول، چې په دې وروستيو کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) او د سترې محکمې د محترم رئيس او قاضي‌القضات شيخ صاحب په هدايت دغه دوه رياستونه سره يو او د مرکزي تفتيش عمومي رياست تر عنوان لاندې فعاليت کوي.

**۴- پوښتنه: شيخ صاحب محترم، زموږ د معلوماتو له مخې د قضائي تفتيش عمومي رياست د هر کال په جريان کې د هېواد له مرافعه، ښاري ابتدائيه او ولسواليو ابتدائيه محاکمو او زندانونو ليدنه کوي، که د اسلامي عدالت خپرونې مينه‌والو ته دا روښانه کړئ چې د قضائي تفتيش عمومي رياست پلاوي د يادو ليدنو پر مهال کوم موارد څاري کوي او له بررسۍ وروسته څه اجراآت کوي؟**

**ځواب:** ستاسو د څلورمې پوښتنې په ځواب کې به ووايو، چې د سترې محکمې تفتيش عمومي رياست په کال کې يو ځل د هېواد (٣٤) ولايتونو د ټولو محاکمو لکه: د سترې محکمې د تميز د دېوانونو، د مرافعه محاکمو د دېوانونو، د ښاري ابتدائيه محاکمو د دېوانونو، د ولسواليو ابتدائيه محاکمو، نظامي، اختصاصي، د غصب د مخنيوي کمېسيون د اختصاصي محاکمو او د حقوقو عمومي رياست د چارو پلټنه کوي.

د قضائي تفتيش عمومي رياست متفشين په دغه بهير کې د يادو محاکمو فيصلې ګوري چې تر کومه حده اصول او قوانين په کې مراعات شوي دي، د کميت او کيفيت ارزونه يې کوي، د محاکمو د غړو مسلکيتوب او سلوکي

پلټنه کوي، چې د محاکمو د غړو سلوک او تعامل د خلکو او مراجعینو سره څنګه دی او په خپل منځ کې یې کارونه په څه ډول دي.

دغه راز د سیمې مسؤولینو، علماء کرامو او مراجعینو څخه د محکمې د غړو په اړه پوښتنه کوي، د عارضینو عریضې اخلي او له اړوند محکمې سره یې شریکوي او د شکایت او ستونزې د حل په موخه ورته لازمې لارښوونې کوي او که بیا هم موضوع حل نه شوه، نو موضوع د سترې محکمې له محترم عالي مقام سره شریکوي.

په دې سربېره د قضائي تفتیش عمومي ریاست پلاوی په یادو محاکمو کې اداري تفتیش کوي، اندراجونه، صادرې او واردې یې کتل کېږي، چې څه ډول یې استعمال کړي، د وثیقو کندې ګوري چې وثیقې په سم ډول وېشل شوې او که نه، د جلب د پاڼو کندې ګوري او مالي پلټنه کوي چې د کومو کارونو په نوم پیسې ورکول کېږي، په خپل اصلي ځای کې مصرف شوې او که نه، د محکمې د اړتیاوو معلومات کوي، چې محکمه کومو شیانو ته اړتیا لري، ایا یاده محکمه خپل تعمیر لري او که نه، د کمپیوټر، پرنټر، مېز، الماری، څوکۍ، فرش، قرطاسیې او موجوده شیان په جدول کې لیکي او یادداشت کوي یې، دا ټول معلومات د راپور سره یو ځای د وړاندیز په بڼه یوه کاپي د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) عالي مقام ته او یوه کاپي د سترې محکمې محترم مقام ته سپاري.

دغه راز د هر محبس او توقیف‌خونې له بندیانو سره له نږدې ګوري، د بندیانو ستونزې یادداشت کوي، بیا یې لومړی له اړوند محکمې او وروسته یې د سترې محکمې له محترم مقام سره د وړاندیز په بڼه شریکوي.

**۵- پوښتنه: محترم شیخ صاحب، د قضائي تفتیش عمومي ریاست قضائي غړي په عموم کې د محاکمو او نورو اړوند ادارو څو ډوله بررسي ترسره کوي؟ که په دې اړه لنډ معلومات راکړئ.**

**ځواب:** ستاسو د پنځمې پوښتنې په ځواب کې به ووایو، چې د سترې محکمې تفتیش عمومي ریاست دوه ډوله پلټنه ترسره کوي:

لومړی عادي پلټنه: په عادي پلټنه کې د قضائي تفتیش عمومي ریاست مؤظف پلاوي په کال کې یو ځل د هېواد (۳٤) ولایتونو ته سفرونه کوي او د محاکمو د مسلکي، سلوکي، اداري او مالي چارو پلټنې سربېره د اړوند ولایت له زندانونو او توقیف‌خونو څخه لیدنه کوي. دا چې د عادي تفتیش په اړه جزئیات مو د څلورمې پوښتنې په ځواب کې شریک کړي دي نو ځکه نه غواړو تکراراً یې یادونه وکړو.

دویم اقتضائي پلټنه: په اقتضائي پلټنه کې د عارض د شکایت په اثر د تفتیش ریاست یو پلاوی چې لږ تر لږه دوه تنه قضائي غړي په کې ټاکل کېږي تر څو، د عارض او معروض څخه د استعلام په ډول اسناد او شواهد را وغواړي، کله بیا له دواړو طرفونو سره له نږدې ګوري، کله بیا کشف الحال لپاره د دعوې د پېښې ځای ته ځي، وروسته بیا د دې موضوع په اړه تفصیلي راپور جوړوي، د عارض د شکایت خلاصه او د دواړو طرفونو ځوابونه په کې لیکي، ورپسې خپل نظر او وړاندیز له دلایلو سره د راپور په ضمن کې د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي او د سترې محکمې محترم مقام چې څرنګه لازم وګڼي، هدایت کوي.

**٦- پوښتنه: شیخ صاحب محترم، شپږمه پوښتنه مو داده چې د عادي او اقتضائي تفتیش یا پلټنې ترمنځ توپیر څه دی؟ که دغه موضوع راته روښانه کړئ.**

ستاسو د شپږمې پوښتنې په ځواب کې به ووایو، لکه څرنګه چې ما مخکې وویل، عادي تفتیش د سترې محکمې د محترم مقام په هدایت په کال کې یو ځل د ټولو محاکمو څخه په یاد شویو مواردو کې ترسره کېږي او خپل راپور یوه کاپي د مشرتابه او یوه کاپي د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي. په داسې حال کې چې اقتضائي پلټنه د عارض د شکایت په اساس او د سترې محکمې له هدایت وروسته د تفتیش ریاست لخوا، د قضائي مفتشینو یو پلاوی جوړېږي، په موضوع هر اړخیزه پلټنه کوي او خپل د پلټنې راپور او پایله له حل‌لارې سره یو ځای د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي.

کله کله د سترې محکمې محترم مقام په هدایت د تفتیش ریاست یو پلاوی بېلا بېلو ولایتونو ته د یوې ځانګړې موضوع په اړه سفر کوي؛ تر څو د موضوع څېړنه له نږدې څخه وکړي، یا د بندیانو د احوالو د څېړنې لپاره د ولایتونو محبسونو څخه لیدنې کوي او خپل معلومات د حل لارو سره یو ځای د سترې محکمې محترم مقام ته وړاندې کوي.

**۷- پوښتنه: محترم شیخ صاحب، د محاکمو مراجعه کوونکي په کومو مواردو کې تفتیش عمومي ریاست ته د اقتضائي پلټنې عریضه کولای شي؟ که فرضاً یو مراجعه کوونکی د عریضې مستحق وي نو آیا مستقیماً به ستاسو ریاست ته عارض کېږي او که څنګه؟**

**ځواب:** ستاسو د اوومې پوښتنې په ځواب کې به ووایو، که کوم شخص د محکمې یا د محکمې د یو غړي څخه شکایت لري، باید خپله عریضه د سترې محکمې د محترم عالي مقام په عنوان ولیکي، خپل شکایت په واضح ډول ولیکي، د بېلګې په توګه، قاضي صاحب زما فیصله ځنډولې ده، یا ماته یې د مرافعه طلبۍ حق نه دی راکړی او یا داسې نور موارد، د هغې محکمې پوره وضاحت دې وکړي چې شکایت ترې لري، چې ابتدائیه، مرافعه او که د تمیز، جزا، امنیت عامه، مدني، منسوبین نظامي دېوانونو او که د اختصاصي، الف که با جزء دی او داسې نور...

او که عارض د محکمې پر حکم اعتراض درلود، چې قاضي صاحب د اصولو او قانون سره سم فیصله کړې، د مرافعې او تمیز حق یې پاتې و، نو باید خپل شکایت او اعتراض لوړې محکمې (مرافعې او تمیز) ته وکړي؛ ځکه لوړه محکمه هم د همدې لپاره ده چې د معترض اعتراض واوري، یا یې د فیصلې تحقیق وکړي چې فیصله شرعي ده او که نقصان لري، که صحیح نه وي لوړه محکمه یې حتماً نقض کوي.

**۸- پوښتنه: محترم شیخ صاحب، که د محکمې مراجعین یا شرعي وکیلان وغواړي د رشوت اړوند موضوعاتو د بررسۍ غوښتونکي وي، دوی باید د سترې محکمې اړوند کومې مرجع ته عریضه وکړي؟ که په دې اړه تفصیلي معلومات راسره شریک کړئ.**

**ځواب:** ستاسو د اتمې پوښتنې په ځواب کې به ووایو، که د کوم کس څخه د رشوت غوښتنه وشوه، نو یاد کس یا د محاکمو مراجعین (مدعي، مدعی علیه او شرعي وکیل) کولای شي خپله ستونزه د عریضې په ډول د سترې محکمې د عالي مقام دوولسم (۱۲) نمبر غرفې سره شریکه کړي، له عریضې سره دې خپل اسناد او شواهد هم ضمیمه کړي، ستره محکمه به یې موضوع دقیقه وڅېړي او په اړه به یې د شرعي اصولو مطابق اجراآت وکړي.

البته که کوم کس چاته د محکمې په نوم پیسې ورکړي؛ نو د اسلامي امارت محاکم به [پیسه ورکوونکی، پیسه اخیستونکی او د دوی ترمنځ منځګړی] د شرعي اصولو په رڼا کې مجازات کړي.

**۹- پوښتنه: قدرمن شیخ صاحب د اسلامي عدالت خپرونې په وروستیو کې هېوادوالو ته څه پیغام لرئ؟**

**ځواب:** په پای کې زما مهم پیغام ټولو هېوادوالو ته دادی چې ځینې کسان د محکمې په نوم د دعوې د خاوندانو څخه د رشوت غوښتنه کوي او وایي چې قاضي زما شناخته دی، یا هغه قاضي سره ما خبره کړې ده چې ستا په ګټه به فیصله کوي، د قاضي په نوم پیسې اخلي، خو خپل جېب کې یې اچوي، دغه ډول فرېبکاران ډېر دي او موږ هېڅکله د دغه غیر شرعي کار د کولو اجازه نه ورکوو.

قاضي صاحبان خبر هم نه وي؛ خو دغه فرېبکارانو د دوی په نوم پیسې اخیستې وي او د قاضیانو نوم بدوي، هېوادوال دې د دغو کسانو په خبرو نه دوکه کېږي او د تفتیش ریاست سره دې په تماس کې شي.

دغه راز د اسلامي عدالت خپرونې مسؤول څخه مننه کوو چې موږ ته یې وخت راکړ چې د سترې محکمې تفتیش عمومي ریاست خدمتونه او دندې ستاسو له لارې لوستونکو سره شریک کړو او لوستونکي په دې پوه شي چې د اړتیا په وخت کې څنګه خپل شکایتونو تر مسؤلینو او مشرانو پورې ورسوي؛ ترڅو یې ستونزه حل شي.

# گزارش اجراآت قضائی و اداری ستره محکمه
# طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق
## بخش اول
## فعالیت‌های قضائی

**قسمت اول:**

**گزارش از اجراآت قضائی طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق دیوان‌های (۱۰) گانهٔ تمیز ستره محکمه:**

دیوان‌های (۱۰) گانهٔ ستره محکمه در مرحلهٔ تمیز (۵) دیوان آن در مرکز تحت اثر ریاست عالی تمیز زون مرکز و (۵) دیوان زون جنوب غرب (کندهار) تحت اثر معاونیت قضائی زون کندهار فعالیت می‌نمایند که طی ربع دوم سال ۱٤۰۳ هـ. ش جمعاً به تعداد (۷٤۹٦ ) قضیه تحت کار دیوان‌های متذکره بوده، از جمله (۱٤٦۳) قضیهٔ جزائی، ( ٤۵۷۱) قضیهٔ مدنی، (۸۹٤) قضیهٔ تجارتی(۱۷۰) قضیهٔ منسوبین نظامی (۳۹۸) قضیهٔ دیوان امنیت عامه می باشد که جزئیات آن در ذیل ارائیه می‌گردد:

### الف - گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های (۵) گانهٔ ریاست عالی تمیز زون مرکز:

**۱- گزارش اجراآت قضائی دیوان جزای تمیز زون مرکز:**

دیوان جزای تمیز زون مرکز طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۹۰۹) قضیه داشته که از جمله (٦۸) قضیه تائید، (۱٤٤) قضیه نقض، (۲ )قضیه فیصله

شده، (۸٦) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده و (٦۰۹) قضیۀ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**۲- گزارش اجراآت قضائی دیوان امنیت عامۀ تمیز زون مرکز:**

در دیوان امنیت عامۀ تمیز زون مرکز طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۲٤۸ ) قضیه موجود بوده که از جمله (۹ ) قضیه تائید، (۳۱ ) قضیه نقض، (۱٤) قضیه رد تمیز طلبی، (۲۷) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده، (۳۸) قضیه قرار های متفرقه، (۳) قضیه فیصله شده و (۱۲٦) قضیۀ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**۳- گزارش اجراآت قضائی دیوان جرایم منسوبین نظامی تمیز زون مرکز:**

دیوان منسوبین نظامی تمیز زون مرکز طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۱۲) قضیه داشته که از جمله (۱۳ ) قضیه نقض شده، (٦ ) قضیه تائید شده، (۲۷) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده،(۱) قضیه قرار بطلان، (٤) قضیه فیصله شده و ( ٦۱) قضیۀ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**٤- گزارش اجراآت قضائی دیوان مدنی تمیز زون مرکز:**

دیوان مدنی تمیز زون مرکز طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۳۵۳۷ ) قضیه داشته که از جمله (۵۲) قضیه تائید شده، (٤۳۹) قضیه نقض شده، (۷۸) قضیه قرار متفرقه، (۲۱۲) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده، (٦) قضیه فیصله شده و (۲۷۵۰) قضیۀ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**۵- گزارش اجراآت قضائی دیوان رسیدگی به قضایای تجارتی تمیز زون مرکز:**

دیوان تجارتی تمیز زون مرکز طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۷٤۷) قضیه داشته که از جمله (۲۰ ) قضیه تائید شده، (۱۱۹) قضیه نقض شده، (۹) قضیه فیصله شده، (۱۹۲) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده، (۳۷) قضیه رد تمیز طلبی،(٤۷) قضیه قرار متفرقه و (۳۲۳) قضیۀ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**ب – گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های (۵) گانۀ معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

**۱- گزارش اجراآت قضائی دیوان جزا تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

در دیوان جزا تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۵۵٤) قضیه موجود بوده که از جمله (۷ ) قضیه تائید شده، (۳۱) قضیه نقض شده، (۱۳۱) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده و (۳۸۵) قضیۀ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**۲- گزارش اجراآت قضائی دیوان امنیت عامۀ تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان امنیت عامۀ تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۵۰) قضیه داشته که از جمله (٦۲) قضیه نقض شده، (۲۳) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده، به (۱۰ ) قضیه تائید شده، (۹) قضیه قرار قطعیت و (٤٦) قضیۀ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**۳- گزارش اجراآت قضائی دیوان جرایم منسوبین نظامی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان منسوبین نظامی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۵۸) قضیه داشته که از جمله (۱۳) قضیه ذریعۀ مکتوب مسترد شده، به (۲) قضیه تائید شده، (۱۲) قضیۀ نقض شده، (٤) قضیه قرار های متفرقه و (۲۷) قضیه دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**٤- گزارش اجراآت قضائی دیوان مدنی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان رسیدگی به قضایای مدنی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۰۳٤) قضیه داشته که از جمله (۲٤) قضیه تائید

شده، (۱۰۱) قضیه نقض شده، (۲۰۳ ) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، (٤) قضیه قرار متفرقه و (۷۰۲ ) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

**۵- گزارش اجراآت قضائی دیوان تجارتی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار):**

دیوان رسیدگی به قضایای تجارتی تمیز معاونیت قضائی زون جنوب غرب (کندهار) طی ربع سوم سال ١٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱٤۷) قضیه داشته که از جمله (۳۰) قضیه تائید شده، (۵۵) قضیه نقض شده، (۱) قضیه قرار قطعیت، (۷) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، (۵٤) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان مذکور قرار دارد.

## قسمت دوم:

## گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های محاکم مرافعهٔ (٣٤) ولایات کشور:

به اساس راپورهای واصلهٔ دیوان‌های محاکم مرافعهٔ (٣٤) ولایت کشور طی ربع سوم سال ١٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۷۸۲۲) قضیه داشته‌است؛ از جمله (۳۵۸۲) قضیهٔ جزائی، (۱۱۰۷٦) قضیهٔ مدنی، (۱٤٤۰) قضیهٔ تجارتی، (۳۱٦) قضیهٔ منسوبین نظامی و (۱٤۰۸) قضیهٔ امنیت عامه می‌باشد که جزئیات آن در ذیل ارائیه میگردد:

**۱- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های جزا محاکم مرافعهٔ (٣٤) ولایت:**

دیوان‌های جزاء محاکم مرافعهٔ (٣٤) ولایت طی ربع سوم سال ١٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۳۵۸۲) قضیه داشته که از جمله (۳۸۳) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، پیرامون (۱۳۲۳) قضیه قرار قضائی صادر شده، (٤۷٤) قضیه فیصله شده و (۱٤۰۲) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۲-گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های امنیت عامهٔ محاکم مرافعهٔ (٣٤) ولایت:**

دیوان‌های امنیت عامهٔ محاکم مرافعهٔ (٣٤) ولایت طی ربع سوم سال ١٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱٤۰۸) قضیه داشته که از جمله (۱۲۹) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، (۷۱۲) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (۲٤۹) قضیه فیصله شده و (۳۱۸ ) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۳- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های منسوبین نظامی محاکم مرافعهٔ (٦) ولایت درجهٔ اول:**

دیوان‌های منسوبین نظامی محاکم مرافعه طی ربع سوم سال ١٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۳۱٦) قضیه داشته که از جمله (٤۲) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (۱۲۰) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (٤۹) قضیه فیصله شده و (۱۰۵) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۴- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های مدنی محاکم مرافعهٔ (٣٤) ولایت:**

در دیوان‌های رسیدگی به قضایای مدنی محاکم مرافعه طی ربع سوم سال ١٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۱۰۷٦) قضیه وارد شده که از جمله (٦۹۵ ) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (۲۸۰۸) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (٤۵۲ ) قضیه فیصله شده و (۷۱۲۱) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۵- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های تجارتی محاکم مرافعهٔ (٦) ولایت درجهٔ اول:**

دیوان‌های رسیدگی به قضایای تجارتی محاکم مرافعه طی ربع سوم سال ١٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱٤٤۰) قضیه داشته که از جمله (۹٤) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (٤۹۳) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (۵۳) قضیه فیصله شده و (۸۰۰) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

## قسمت سوم:

## گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های محاکم ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های (۳٤) ولایت:

به اساس راپورهای واصلهٔ دیوان‌های محاکم ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های (۳٤) ولایت کشور، طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۰۱٦۳۷) قضیه در محاکم متذکره موجود بوده که از جمله (۱۸۲۸۱) قضیهٔ جزائی، (۵۵۰٤۲) قضیهٔ مدنی، (۱۲۳۷۳) قضیهٔ تجارتی، (۷۲۵٤) قضیهٔ امنیت عامه، (۱۳۸٦) قضیهٔ ترافیکی، (٤٤۸۲) قضیهٔ منسوبین نظامی، (۸۰) قضیهٔ مربوط به محکمهٔ ابتدائیهٔ اختصاصی جلوگیری از غصب املاک امارتی ولایات کابل، بلخ و کندهار می‌باشد، (۹۹۱) قضیهٔ محکمهٔ ابتدائیهٔ اختصاصی مواد مخدر ولایت کابل، (۱۷٤۸) قضیهٔ مربوط به محکمهٔ اختصاصی دارالافتاء که جزئیات آن در ذیل ارائیه می‌گردد:

**۱-گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های جزا محاکم ابتدائیهٔ شهری و قضایای جزائی محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های (۳٤) ولایت:**

دیوان‌های جزا محاکم ابتدائیهٔ شهری و بخش جزائی محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های (۳٤) ولایت طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۸۲۸۱) قضیه داشته که از جمله (٦۷۵) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (٤۵۹۳) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (٦۵٤۱) قضیه فیصله شده و (٦٤۷۲) قضیهٔ دیگر آن تحت کار محاکم مذکور قرار دارد.

**۲- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های امنیت عامهٔ محاکم ابتدائیهٔ شهری (۳۴) ولایت:**

در دیوان‌های امنیت عامهٔ محاکم ابتدائیهٔ شهری (۳٤) ولایت طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۷۲۵٤) قضیه موجود بوده که از جمله (٤۵۰) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (۱۰۳۲) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (۳۰٤۵) قضیه فیصله شده و (۲۷۲۷) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۳- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های ترافیکی محاکم ابتدائیهٔ شهری (۳۴) ولایت:**

دیوان‌های ترافیکی محاکم ابتدائیهٔ شهری (۳٤) ولایت طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۳۸٦) قضیه داشته که از جمله (۳۱) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (۳۱۰) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (٤۵۸) قضیه فیصله شده و (۵۸۷) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۴-گزارش اجراآت قضائی محاکم ابتدائیهٔ منسوبین نظامی (۸) زون کشور:**

محاکم ابتدائیهٔ منسوبین نظامی (۸) ولایات زون کشور طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (٤٤۸۲) قضیه داشته که از جمله (۲٤۸) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (۱۲۵۳) قضیه قرار قضائی، (۱۱۸۵) قضیه فیصله شده و (۱۷۹٦) قضیهٔ دیگر آن تحت کار محاکم مذکور قرار دارد.

**۵- محکمهٔ ابتدائیهٔ اختصاصی مواد مخدر ولایت کابل:**

در محکمهٔ ابتدائیهٔ اختصاصی مواد مخدر ولایت کابل طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد ( ۹۹۱) قضیه موجود بوده که از جمله (۳) قضیه مکتوبی مسترد شده، (۸٦٤) قضیه فیصله شده، (٤) قضیه قرار قضائی و (۱۲۰) قضیهٔ دیگر آن تحت کار محکمهٔ مذکور قرار دارد.

**٦- محکمهٔ ابتدائیهٔ اختصاصی جلوگیری از غصب و استرداد زمین‌های غصب شدهٔ امارتی:**

در محکمهٔ ابتدائیهٔ اختصاصی جلوگیری از غصب و استرداد زمین‌های غصب شدهٔ امارتی طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۸۰) قضیه موجود بوده که از جمله به (۵) قضیه توسط قرار قضائی رسیدگی شده، (۲۳) قضیه مکتوبی مسترد شده، (۱۰) قضیه فیصله شده و (٤۲) قضیهٔ دیگر آن تحت کار محکمهٔ مذکور قرار دارد.

**۷- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های مدنی محاکم ابتدائیهٔ شهری و قضایای حقوقی محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی‌های (۳٤) ولایت:**

در دیوان‌های مدنی محاکم ابتدائیهٔ شهری و بخش حقوقی محاکم ابتدائیه ولسوالی‌های (۳٤) ولایت طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (٥٥۰٤۲ ) قضیه موجود بوده که از جمله (۱٦٥٥) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (۱۲۸۱۷) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (٦۲۸۸) قضیه فیصله شده و (۳٤۲۸۲) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۸- گزارش اجراآت قضائی دیوان‌های ابتدائیهٔ تجارتی محاکم شهری (٦) ولایت درجهٔ اول و (۱) ولایت درجه دوم :**

در دیوان‌های ابتدائیهٔ تجارتی محاکم شهری (٦) ولایت طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۲۳۷۳) قضیه موجود بوده که از جمله (٥۹۳) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به (۲۳۸۰) قضیه ذریعهٔ قرار قضائی رسیدگی شده، (۱۲۳۷) قضیه فیصله شده و ( ۸۱٦۳) قضیهٔ دیگر آن تحت کار دیوان‌های مذکور قرار دارد.

**۹-گزارش اجراآت محکمه اختصاصی مربوط ریاست دارالافتاء :**

در محکمهٔ اختصاصی ریاست دارالافتاء طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ ق جمعاً به تعداد (۱۷٤۸) قضیه مواصلت نموده است که از جمله (۱٥۸) قضیه مسترد مکتوبی، (۱٤۷) قضیه ذریعه قرار رسیده گی شده، (٥٤) قضیه فیصله شده و (۱۳۸۹) قضیه تحت کار ریاست مربوط میباشد.

## قسمت چهارم

## تعداد وثایق اجراء شده

تعداد و انواع وثایق اجراء شده در آمریت های وثایق، دیوان های مدنی، تجارتی و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های ولایات کشور طی ربع سوم سال ۱٤٤٦ هـ.ق.

| شماره | نوع وثیقه | تعداد وثایق | ملاحظات |
|---|---|---|---|
| ۱ | قباله قطعی | ۸۴۵ | |
| ۲ | نکاح خط | ۱۶۴۰۶ | |
| ۳ | طلاق خط | ۲۵۳ | |
| ۴ | حجت دین | ۱ | |
| ۵ | اقرار خط | ۳۲۱۲ | |
| ۶ | اصلاح خط | ۳۶۳ | |
| ۷ | نفقه خط | ۸ | |
| ۸ | اجاره خط | ۰ | |
| ۹ | انصراف خط | ۱۳ | |
| ۱۰ | وکالت بالشهود | ۳۲۵۹ | |
| ۱۱ | وکالت بالاقرار | ۸۰۲۳ | |
| ۱۲ | تصحیح اسم | ۱۰۱۹ | |
| ۱۳ | تقسیم خط | ۲۰ | |

| | | | |
|---|---|---|---|
| ۱۴ | تملیک خط | ٦٦ | |
| ۱۵ | ضمانت خط | ۳۴۴ | |
| ۱٦ | تغیر اسم | ۵۹۴ | |
| ۱۷ | ابراء خط | ۳۲۰ | |
| ۱۸ | وصیت خط | ۱۱۹ | |
| ۱۹ | محرم خط | ۲٦٦ | |
| ۲۰ | صلح خط | ۱۱۴ | |
| ۲۱ | حصر وراثت | ۴۹۲۹ | |
| ۲۲ | قیم خط | ۱۱۸ | |
| ۲۳ | حجت قرض حسنه | ۲ | |
| ۲۴ | ضمانت خط قرار داد | ۵۳۳ | |
| ۲۵ | قرابت خط | ۱۹۵ | |
| ۲٦ | وصایت خط | ۲۴۱۰ | |
| ۲۷ | زوجیت خط | ۱۲۹۰ | |
| مجموع | | ۴۴۷۲۲ | |

## قسمت پنجم

## تعداد قضایای موجود و وثایق اجراء شده

**۱- جدول توحیدی تعداد قضایای جزائی و حقوقی در مرحله ابتدائیه ، مرافعه و وثایق اجراء شده در هر ولایت کشور با در نظر داشت پرکار و کم کار بودن محاکم طی ربع سوم سال ۱٤٤٦هـ.ق.**

| شماره | ولایات | مجموع قضایا | قضایای رسیده گی شده | | | قضایای باقی مانده | تعداد وثایق اجراء شده |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | مسترد مکتوبی | قرارقضائی | فیصله شده | | |
| ۱ | ولایت کابل | ۲٤۷۳۳ | ۱۲٦۷ | ۳٦۸۰ | ٤۵۰۱ | ۱۵۲۸۵ | ۷۵۳۲ |
| ۲ | ولایت هرات | ۸۹٤۲ | ۳۳۷ | ۱۷٦۷ | ۱۲۳۰ | ۵٦۰۸ | ۵۳۹۷ |
| ۳ | ولایت کندز | ۷۹۲۱ | ۱۷٦ | ۱٤۲۸ | ۸۳٤ | ۵٤۸۳ | ۱۷۱۸ |
| ٤ | ولایت بلخ | ۷۷۸۸ | ۳۲۸ | ۱۸۱۰ | ۹۹۹ | ٤٦۵۱ | ۱۹٤۹ |
| ۵ | ولایت ننگرهار | ٦۳۱۰ | ٤۵۰ | ۱۰۵٤ | ۱۱۵٤ | ۳٦۵۲ | ۱۱۳٤ |
| ٦ | ولایت تخار | ٦۱٦۲ | ۱۰٦ | ۱۰٦۹ | ۷٦٤ | ٤۲۲۳ | ۱۳۲۵ |
| ۷ | ولایت بغلان | ۵۱۵٤ | ۲۳٦ | ۱۷۰۰ | ۵۰۳ | ۲۷۱۵ | ۱٤۳۰ |
| ۸ | ولایت کندهار | ٤۲۲۱ | ۱۹۰ | ۹٦٦ | ۱۰۹۵ | ۱۹۷۰ | ۲٦۷۰ |
| ۹ | ولایت بدخشان | ٤۰۳۸ | ۱۷۰ | ۱۰۳۲ | ٤۹۹ | ۲۳۳۷ | ۱۰۵۷ |
| ۱۰ | ولایت فاریاب | ۳۳٦۵ | ٦۳ | ۹۹۵ | ۷٦۱ | ۱۵٤٦ | ۲۵۰۲ |
| ۱۱ | ولایت هلمند | ۳۲۷٦ | ۳۳ | ۹٤٤ | ۱۰۹۹ | ۱۲۰۰ | ۱۸۵۳ |
| ۱۲ | ولایت غزنی | ۳۲۳۵ | ۲٦۱ | ۸۹۰ | ۵٤۹ | ۱۵۳۵ | ۱۵۱٦ |

| | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۳ | ولایت غور | ۳۰۴۷ | ۱۵۵ | ۷۴۷ | ٤٦٠ | ١٦٨٥ | ٦٦٩ |
| ۱٤ | ولایت بادغیس | ۲۳۲۲ | ١٦١ | ١٢٥٤ | ٣٤١ | ٥٦٦ | ٥٦٤ |
| ۱۵ | ولایت خوست | ۲۱۸۹ | ٩٤ | ٥٩٣ | ٥٤٥ | ٩٥٧ | ٨١٥ |
| ۱٦ | ولایت پکتیا | ۲۱۳۷ | ١١٦ | ٦٢٠ | ٤٥٢ | ٩٤٩ | ٥١٣ |
| ۱۷ | ولایت ارزگان | ۲۰۵۱ | ١٢٩ | ٦٢٠ | ٨٢٩ | ٤٧٣ | ٨٠٣ |
| ۱۸ | ولایت پروان | ۱۹۹۰ | ١٤٧ | ٧١١ | ٣٤١ | ٧٩١ | ١٠١٥ |
| ۱۹ | ولایت جوزجان | ۱۹۷۵ | ٦١ | ٦٣٧ | ٤٣٣ | ٨٤٤ | ١٠٣٤ |
| ۲۰ | ولایت زابل | ۱۸۲۸ | ٥٢ | ٣٧٠ | ٢٦٠ | ١١٤٦ | ٥٩٩ |
| ۲۱ | ولایت سمنگان | ۱٦۷۱ | ٦٨ | ٤٩٤ | ٢٣٤ | ٨٧٥ | ٨٤٧ |
| ۲۲ | ولایت کاپیسا | ۱٦٤٤ | ٧٢ | ٣٥٨ | ٣٢٤ | ٨٩٠ | ٤٣٨ |
| ۲۳ | ولایت کنرها | ۱٦٤٤ | ٥٣ | ٤٢٧ | ٤٠٧ | ٧٥٧ | ٦٨٠ |
| ۲٤ | ولایت بامیان | ۱۵۸۳ | ٤٥ | ٣٨٢ | ١٦٩ | ٩٨٧ | ٥٥٥ |
| ۲۵ | ولایت سرپل | ۱۵٤۷ | ٦٨ | ٥٦٣ | ٢٤٤ | ٦٧٢ | ٨١١ |
| ۲٦ | ولایت لغمان | ۱۵٤۱ | ٨١ | ٣٣٨ | ٣٣٠ | ٧٩٢ | ٦١٨ |
| ۲۷ | ولایت فراه | ۱٤۵٤ | ٢٥ | ٥٣٧ | ٤٨٢ | ٤١٠ | ١٢٢٢ |
| ۲۸ | ولایت نیمروز | ۱۲۸٦ | ٢٨ | ٦١٤ | ٣٥٣ | ٢٩١ | ٤٨٠ |
| ۲۹ | ولایت پکتیکا | ۱۱۵۲ | ٤١ | ٣٧٠ | ٢٦٨ | ٤٧٣ | ٣٥١ |
| ۳۰ | ولایت لوگر | ۱۰۳۳ | ٦٥ | ٢٨٩ | ١٣٧ | ٥٤٢ | ٨٤٢ |
| ۳۱ | ولایت میدان وردک | ۸۲٤ | ٣٢ | ٢٩٥ | ١٥٩ | ٣٣٨ | ٧٥٤ |
| ۳۲ | ولایت دایکندی | ۵۹۳ | ٢٤ | ٢٦١ | ١٧١ | ١٣٧ | ٤٦٣ |
| ۳۳ | ولایت نورستان | ٤٤۵ | ١٠ | ٩٥ | ٧٧ | ٢٦٣ | ١٢٩ |
| ۳٤ | ولایت پنجشیر | ۳۵۹ | ٣٥ | ٨٧ | ٥٥ | ١٨٢ | ٤٣٧ |
| | مجموع | ۱۱۹٤٦۰ | ٥١٧٩ | ٢٧٩٩٧ | ٢١٠٥٩ | ٦٥٢٢٥ | ٤٤٧٢٢ |

## قسمت ششم

## اجراآت کاری ریاست عمومی حقوق

### جدول توحیدی راپور اجراآت کاری ریاست عمومی حقوق و واحد های ولایتی طی ربع ( سوم ) سال ( ١٤٤٦ ) هـ.ق.

| شماره | مرکز / ولایات | عرایض باقی مانده از ربع گذشته: مدنی | عرایض باقی مانده از ربع گذشته: فامیلی | عرایض باقی مانده از ربع گذشته: تجارتی | عرایض وارده جدید: مدنی | عرایض وارده جدید: فامیلی | عرایض وارده جدید: تجارتی | مجموع عرایض | عرایض بررسی شده: راجع شده به سایر ادارات | عرایض بررسی شده: اصلاح و ابراء | عرایض بررسی شده: حفظ شده | عرایض بررسی شده: محول شده به محکمه | عرایض تحت کار | دوسیه جات باقی مانده از ربع گذشته: مدنی | دوسیه جات باقی مانده از ربع گذشته: تجارتی | دوسیه جات وارده جدید: مدنی | دوسیه جات وارده جدید: تجارتی | مجموع دوسیه جات | اجراآت صورت گرفته در قبال دوسیه جات: راجع شده به سایر ادارات | اجراآت صورت گرفته در قبال دوسیه جات: حفظ شده | اجراآت صورت گرفته در قبال دوسیه جات: محول شده به محکمه | اجراآت صورت گرفته در قبال دوسیه جات: تطبیق شده: مدنی | اجراآت صورت گرفته در قبال دوسیه جات: تطبیق شده: تجارتی | اجراآت صورت گرفته در قبال دوسیه جات: تطبیق شده: حقوق عامه | دوسیه های تحت کار |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱ | کابل | ۴۴۲ | ۵۶ | ۱۹۵ | ۲۶۵۹ | ۴۷۶ | ۳۳۷۱ | ۷۱۹۹ | ۲۲۳ | ۳۲۵ | ۳۶۳۳ | ۱۱۲۶ | ۱۸۹۲ | ۳۶۲ | ۱۹۶ | ۲۰۰۱ | ۲۶۴۲ | ۵۲۰۱ | ۶۲۵ | ۱۵۲۷ | ۱۰۳۹ | ۲۶۲ | ۰ | ۰ | ۱۷۴۸ |
| ۲ | هرات | ۱۴۷۱ | ۸۵۵ | ۱۵۸۹ | ۴۰۸۶ | ۱۰۳۷ | ۴۶۴۸ | ۱۳۶۸۶ | ۱۱۶۵ | ۲۰۲۴ | ۵۷۲۲ | ۱۲۷۰ | ۳۵۰۵ | ۹۰ | ۶۷ | ۴۹۹ | ۱۵۷ | ۸۱۳ | ۴۰ | ۱۸۵ | ۳۱۹ | ۱۲۸ | ۰ | ۰ | ۱۴۱ |
| ۳ | بلخ | ۴۱۷ | ۲۹ | ۳۲۴ | ۱۲۵۳ | ۹۷ | ۱۱۰۸ | ۳۲۲۸ | ۸۸ | ۳۵۱ | ۸۳۴ | ۸۳۵ | ۱۱۲۰ | ۲۷۱ | ۱۵۶ | ۹۹۵ | ۸۴۰ | ۲۲۶۲ | ۱۶۶ | ۱۰۳۷ | ۴۷۰ | ۳۷ | ۰ | ۰ | ۵۵۲ |
| ۴ | بدخشان | ۴۲۳ | ۷۷ | ۱۴۵ | ۱۵۵۳ | ۱۹۵ | ۷۵۰ | ۳۱۴۳ | ۲۳ | ۷۴۲ | ۱۰۴۵ | ۴۹۱ | ۸۴۲ | ۶۷ | ۲۴ | ۷۳۲ | ۱۹۹ | ۱۰۲۲ | ۴۵ | ۶۴۹ | ۸۶ | ۶۰ | ۰ | ۰ | ۱۸۲ |
| ۵ | بادغیس | ۱۳۰ | ۹ | ۹۸ | ۸۳۶ | ۱۱۸ | ۳۴۳ | ۱۵۳۴ | ۷ | ۳۰۵ | ۵۲۸ | ۴۸۰ | ۲۱۴ | ۱۴۷ | ۱۵ | ۳۶۳ | ۷۱ | ۵۹۶ | ۲۳ | ۳۱۸ | ۲۳ | ۵۷ | ۰ | ۰ | ۱۷۵ |
| ۶ | غزنی | ۳۷۰ | ۱۹ | ۲۹۳ | ۷۹۴ | ۲۵۲ | ۴۷۷ | ۲۲۰۵ | ۴۵ | ۴۶۹ | ۷۱۸ | ۳۴۴ | ۶۲۹ | ۸۱ | ۱۴۲ | ۱۰۰ | ۸۹ | ۴۱۲ | ۱۷ | ۶۴ | ۱۳ | ۱۱۵ | ۰ | ۰ | ۲۰۳ |
| ۷ | تخار | ۰ | ۰ | ۴ | ۲۰۸۶ | ۱۷۷ | ۹۶۳ | ۳۲۳۰ | ۴۸ | ۵۸۷ | ۱۰۲۲ | ۸۰۱ | ۷۷۲ | ۰ | ۰ | ۷۴۶ | ۳۵۴ | ۱۱۰۰ | ۴۲ | ۷۰۳ | ۱۴۳ | ۱۰۱ | ۰ | ۰ | ۱۱۱ |
| ۸ | سمنگان | ۲۷۶ | ۵ | ۲۵ | ۹۹۹ | ۳۳ | ۹۰ | ۱۴۲۸ | ۱۹ | ۲۷۵ | ۶۷۱ | ۲۱۲ | ۲۵۱ | ۱۵ | ۱ | ۴۴۳ | ۳۴ | ۴۹۳ | ۱۲۰ | ۱۹۲ | ۱۰۱ | ۴۰ | ۰ | ۰ | ۴۰ |
| ۹ | سرپل | ۴۲ | ۴ | ۶ | ۷۸۸ | ۸۵ | ۲۳۱ | ۱۱۵۶ | ۲۵ | ۲۶۷ | ۳۶۹ | ۲۷۸ | ۲۱۷ | ۰ | ۰ | ۱۲۶ | ۱۱ | ۱۳۷ | ۶ | ۴۶ | ۱۸ | ۲۲ | ۰ | ۰ | ۴۵ |
| ۱۰ | پروان | ۰ | ۰ | ۰ | ۵۰۸ | ۹۵ | ۶۴۳ | ۱۲۴۶ | ۹ | ۳۲۰ | ۲۴۴ | ۲۵۷ | ۴۱۶ | ۰ | ۰ | ۷۶۶ | ۲۵۱ | ۱۰۱۷ | ۲۵۷ | ۲۰۵ | ۲۹۶ | ۶۱ | ۰ | ۰ | ۱۹۸ |
| ۱۱ | ننگرهار | ۱۰ | ۰ | ۷ | ۹۵۳ | ۸۷ | ۱۶۰۶ | ۲۶۶۳ | ۲۸ | ۳۹۲ | ۵۰۲ | ۴۵۶ | ۱۲۸۵ | ۱۴ | ۲۲ | ۵۴۴ | ۵۲۳ | ۱۱۰۳ | ۱۲۲ | ۴۲۵ | ۱۵۴ | ۸۱ | ۰ | ۰ | ۳۲۱ |
| ۱۲ | فاریاب | ۲۹۹ | ۳۱ | ۲۷۹ | ۱۰۴۹ | ۹۱ | ۸۹۸ | ۲۶۴۷ | ۶۳ | ۴۰۲ | ۱۰۴۳ | ۶۵۴ | ۴۸۵ | ۱۲ | ۱۵ | ۴۹ | ۳۳ | ۱۰۹ | ۲۰ | ۱۴ | ۴ | ۴۲ | ۰ | ۰ | ۲۹ |
| ۱۳ | کندز | ۹۳ | ۵ | ۱۳۶ | ۱۰۸۵ | ۸۱ | ۹۱۸ | ۲۳۱۸ | ۴۹ | ۴۳۳ | ۸۵۷ | ۸۶۰ | ۱۱۹ | ۹۸۶ | ۵۲۰ | ۷۹۸ | ۲۳۰ | ۲۵۳۴ | ۲۶ | ۶۰۸ | ۶۹ | ۶۲ | ۰ | ۰ | ۱۷۶۹ |
| ۱۴ | کاپیسا | ۹۲ | ۲ | ۳۳ | ۷۰۴ | ۳۸ | ۳۷۳ | ۱۲۴۲ | ۴۴ | ۳۰۸ | ۳۵۲ | ۲۱۳ | ۳۲۵ | ۳۰ | ۷ | ۳۴۷ | ۱۲۸ | ۵۱۲ | ۱۱۲ | ۲۲۹ | ۶۷ | ۸۲ | ۰ | ۰ | ۳۲ |
| ۱۵ | لوگر | ۲۴۰ | ۹ | ۱۰۶ | ۲۷۳ | ۲۹ | ۳۴۱ | ۹۹۸ | ۲ | ۱۴۶ | ۶۳۳ | ۹۳ | ۱۲۴ | ۱۳ | ۲ | ۷۱ | ۶۰ | ۱۴۶ | ۶ | ۷۰ | ۹ | ۶ | ۰ | ۰ | ۵۵ |
| ۱۶ | هلمند | ۷۲ | ۱۵ | ۴۸ | ۵۰۶ | ۵۴ | ۴۷۸ | ۱۱۷۳ | ۱۰ | ۳۵۲ | ۳۱۳ | ۳۳۳ | ۱۶۵ | ۹ | ۰ | ۱۳ | ۰ | ۲۲ | ۰ | ۰ | ۰ | ۷ | ۰ | ۰ | ۱۵ |
| ۱۷ | نیمروز | ۱۶۴ | ۲۰ | ۴۱۶ | ۶۵۲ | ۴۰ | ۱۷۶۹ | ۳۰۶۱ | ۰ | ۲۵۳ | ۶۸۶ | ۳۱۵ | ۱۸۰۷ | ۰ | ۲۴ | ۳ | ۱۹ | ۴۶ | ۰ | ۰ | ۹ | ۸ | ۰ | ۰ | ۲۹ |
| ۱۸ | کندهار | ۰ | ۰ | ۰ | ۱۰۸۷ | ۴۳۱ | ۲۵۴۹ | ۴۰۶۷ | ۶۲ | ۶۶۷ | ۸۰۶ | ۱۰۵۲ | ۱۴۸۰ | ۰ | ۰ | ۶ | ۲۰۲ | ۲۰۸ | ۰ | ۰ | ۱ | ۲۸ | ۰ | ۰ | ۱۷۹ |
| ۱۹ | کنرها | ۲۴۴ | ۳ | ۱۰۷ | ۸۸۲ | ۷ | ۳۸۱ | ۱۶۲۴ | ۹۰ | ۶۸۶ | ۵۷۴ | ۱۷۲ | ۱۰۲ | ۳۰ | ۶ | ۳۴۱ | ۹۰ | ۴۶۷ | ۱۱۲ | ۱۵۰ | ۷۱ | ۳۳ | ۰ | ۰ | ۱۰۱ |
| ۲۰ | پکتیکا | ۶۱ | ۲ | ۵۹ | ۱۹۵ | ۱۹ | ۲۰۱ | ۵۳۷ | ۲۱ | ۱۷۵ | ۱۷۶ | ۵۸ | ۱۰۷ | ۱۲ | ۷ | ۱۸ | ۳۰ | ۶۷ | ۹ | ۲ | ۱ | ۲۷ | ۰ | ۰ | ۲۸ |
| ۲۱ | بغلان | ۲۴۴ | ۳ | ۱۳ | ۱۴۹۸ | ۶۴ | ۴۶۵ | ۲۲۸۷ | ۱۲۹ | ۴۹۵ | ۷۴۴ | ۵۱۲ | ۴۰۷ | ۳۱ | ۱۱ | ۲۸۹ | ۴۲ | ۳۷۳ | ۱۲ | ۴۸ | ۴۸ | ۱۰۶ | ۰ | ۰ | ۱۵۹ |
| ۲۲ | بامیان | ۱۱ | ۰ | ۲۶ | ۲۶۹ | ۳۲ | ۵۵۳ | ۸۹۱ | ۰ | ۱۱۶ | ۴۴۲ | ۱۷۸ | ۱۵۵ | ۲۷ | ۷۷ | ۱۷۰ | ۹۵ | ۳۶۹ | ۱ | ۱۸۱ | ۳۳ | ۴۹ | ۰ | ۰ | ۱۰۵ |

# دویمه برخه:
# د ۱۴۴۶ هـ ق، په درېیمې ربعه کې د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو اجراآت

## ۱- د سترې محکمې قضائي معاونیت د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېیمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي معاونیت د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې فعالیتونه سرته رسولي دي:

• د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د افغانستان اسلامي امارت له بېلابېلو ادارو څخه د سترې محکمې قضائي معاونیت ته د قضائي هدایت غوښتنې په موخه (۷۴۶) مکتوبونه راغلي، چې له ارزونې وروسته احکام شوي او د لارښوونو مطابق اړوند ادارو ته بېرته لېږل شوي دي.

• د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د بېلابېلو قضائي او اداري موضوعاتو اړوند (۵۵۲) مکتوبونه د قضائي معاونیت د هدایت مطابق صادر او اړوندو مراجعو ته انتقال شوي دي.

• د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د سترې محکمې عالي مقام ته (۲۵۸۸) عریضې رسېدلې؛ چې له ارزونې او هدایت وروسته لازم اجراآت پرې شوي او له دې جملې څخه (۳۴۱) قطعې عریضې مستردې شوې دي.

## ۲- د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېیمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې محترم عالي مقام د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې فعالیتونه سرته رسولي دي:

۱. د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي ریاست ته د ۱۴۴۶هـ ق کال درېیمه ربعه کې د مرکز او ولایتونو له بېلا بېلو ادارو، محاکمو او وزارتونو څخه (۲۴۹۶) مکتوبونه او وړاندیزونه راغلي دي؛ چې د هدایت ترلاسه کولو وروسته اړوند ادارو ته لېږل شوي.

۲. د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال درېیمه ربعه کې د ځانګړو موضوعاتو په تړاو (۲۷) قطعې ځانګړي مکتوبونه هم صادر کړي دي.

۳. د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال درېیمه ربعه کې (۶۴۱) جزائي دوسیې د تعزیري سزاګانو د تطبیق په موخه د عالي مقام تر لارښوونې وروسته اړوند ادارو ته راجع شوې دي.

٤. د ۱۴۴۶هـ ق کال درېیمه ربعه کې د سترې محکمې عالي شورا د (۱۱) مصوبې پر بنسټ د محبوسینو د عفوې او تخفیف (۵۶۱۵) فورمې د سترې محکمې د عالي مقام له تائید وروسته تنظیم او د اجراآتو لپاره اړوند ادارو ته لېږل شوې دي.

۵. د سترې محکمې عالي مقام د دفتر عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال درېیمه ربعه کې د میاشتې لیدلو کمېټې، تعلیمي نصاب کمېټې او د اصولي سندونو د بیا کتنې نهایي کمېسیون مسلسلې ناستې تنظیم او ترسره کړې دي.

## ۳- د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېیمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې موضوعاتو ته رسېدنه کړې ده:

۱. د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د محاکمو د تبدیلۍ په برخه کې (۱۶۰۲) موضوعاتو ته رسېدنه کړې ده.

۲. د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د استهداآتو په برخه کې (۳۸۳) موضوعاتو ته رسېدنه کړې ده.

۳. د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د متفرقه موضوعاتو برخه کې (۶۶۸) موضوعاتو ته رسېدنه کړې ده.

٤. د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د تنازع صلاحیت په برخه کې (۱۰۵) موضوعاتو ته رسېدنه کړې ده.

۵. د دارالانشاء عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د تخلفاتو په برخه کې (۹۹۹) موضوعاتو

ته رسېدنه کړې ده.
٦. د دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د تجديد نظر په برخه کې (۳۳۲) موضوعاتو ته رسېدنه کړې ده.
۷. د دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د متحدالمآلونه په برخه کې (٦) موضوعاتو ته رسېدنه کړې ده.
۸. د دارالانشاء عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې مجموعاً (۴۰۹۵) موضوعات صادر او وارد کړي او د شريعي اصولو په رڼا کې ورته پر خپل وخت رسېدنه شوې ده.

## ۴- د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه سرته رسولي دي:
۱. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د قضائي اجراآتو د ارزونې په موخه د هېواد بېلابېلو ولايتونو، لکه: کندوز، تخار، فارياب، پکتيا، پنجشېر، بغلان، کاپيسا، سرپل، بدخشان او لوګر له زندانونو او بنديانو څخه ليدنې کړې؛ د هغوی ستونزې، شکايتونه او اړتياوې يې ياداشت کړې او د مرافعه او ښاري ابتدائيه محاکمو او اړوند ادارو سره يې د حل په موخه شريک کړي دي.
۲. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د کندوز، بغلان، پکتيکا او سمنګان ولايتونو محاکمو د برحاله قضائي منسوبينو څخه د ورتيا ازموينه واخيسته؛ ترڅو د ورتيا، صداقت او پاک‌نفسۍ له مخې د وړ قاضيانو تشخيص وشي.
۳. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د مرکز او ولايتي محاکمو له اجراآتو څخه د اصحاب دعوی د شکايتونو په تړاو (۱۵۷) اقتضائي دوسيې ياد رياست ته راجع شوې، چې له ډلې يې (۱۰۵) دوسيې څېړل شوې او اړوند راپورونه يې د سترې محکمې عالي مقام ته لېږل شوي او پاتې (۵۲) دوسيې لا هم د قضائي مفتشينو تر څېړنې لاندې دي.
٤. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د تفتيش بهير پر مهال د مرکز او ولايتونو د محاکمو له اجراآتو څخه د مدعيانو شکايتونه او عرايض څېړل شوي، ترڅو د قضائي عدالت د تأمين او قانوني شفافيت لپاره عملي ګامونه پورته شي.
۵. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ولايتونو محاکمو کلنۍ او ربعوار راپورونه چې مرکز ته لېږلي وو، د محاکمو د عادي اجراآتو د څېړنې په ترڅ کې د قضائي مفتشينو لخوا وڅېړل شول؛ ځينې توپيرونه چې د يادو شوو راپورونو ترمنځ ليدل شوي وو، له اړوند مسؤول څخه يې په اړه پوښتنه وشوه او د حل په موخه ورته لازمې لارښوونې وشوې.
٦. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې په محاکمو کې د يو واحد سلوک او سالمو کړنو د ترسره کولو په موخه د سترې محکمې د عالي شورا حکمونه، اصول، مقررات، طرزالعملونه او مصوبې د سم او پر وخت تطبيق څارنه د قضائي تفتيش د عمومي رياست له مهمو دندو څخه ده او په هره ربعه کې د قضائي پلټونکو لخوا په دوامداره توګه ترسره کېږي، چې په درېيمه ربعه کې هم دغه نظارت ترسره شو.
۷. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست لخوا د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د يو واحد قضائي سلوک او په محاکمو کې د سالمو کړنو د ترسره کولو په موخه، د سترې محکمې د عالي مقام د حکمونو، اصولو، مقرراتو او تصويبونو په نظر کې نيولو سره قضائي غړو او اداري کارکوونکو ته لازمې لارښوونې وشوې.
۸. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست

د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د هغو محاکمو د قضائي او اداري منسوبينو فعاليتونه چې د تفتيش په مرحله کې يې قرار درلود؛ د تفتيش پلاوي له لوري يې يو په بل پسې يې څېړنه شوې، هغه کوچنۍ خلاوې او نېمګړتياوې چې تر سترګو شوې، د مفتشينو له لوري اړوند مسؤولينو ته د مقرراتو مطابق توصيې او لارښوونې وشوې، ترڅو په راتلونکي کې دا ډول نېمګړتياوې تکرار نه شي او د اصولو سره سم خپل فعاليتونه ترسره کړي؛ دغه راز هغه نېمګړتياوې چې د اداري، نظام او ټولنې لپاره زيانمنې وې، قضائي مفتشينو لخوا يې راپور د لا زياتو لارښوونو په موخه ترتيب او د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شو.

۹. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست ياد فعاليتونه د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې په هغو محاکمو کې ترسره شوي چې د تفتيش رياست د مسلکي غړو له خوا څېړل شوي او اړونده راپورونه يې سترې محکمې ته وړاندې شوي دي.

۱۰. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د هغو قضائي او اداري منسوبينو د عادي اجراآتو د څېړنې په جريان کې چې د هغوی وړتيا، اهليت، زيار او لياقت په کې څرګند شوی، د قضائي مفتشينو لخوا په لوړ بست کې د دوی د تقرر وړانديز د سترې محکمې عالي مقام ته وړاندې شوی دی.

۱۱. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د روان ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د محاکمو د عادي اجراآتو د نظارت او تفتيش ترڅنګ، ټولو قضائي، اداري او خدماتي کارکوونکو ته لازمې لارښوونې او توصيې وشوې، ترڅو خپل فعاليتونه پر وخت او په غوره کيفيت سره ترسره کړي، د مدعيانو شکايتونو او مشروع غوښتنو ته ژر رسېدنه وکړي، د سترې محکمې په چوکاټ کې د پوهاوي، عدالت، بې‌پريتوب او بې‌طرفۍ فضاء نوره هم پياوړې شي.

۱۲. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه د خلکو او امارت ترمنځ د زيات اعتماد رامنځته کولو او له مراجعينو او نورو امارتي ادارو سره د ښه چلند برخې ته پاملرنه کړې ده؛ سربېره پر دې، له هغو مراجعينو څخه چې د ستونزو د حل په موخه محاکمو ته حاضر شوي وو معلومات ترلاسه شول، ترڅو وڅېړل شي چې د محاکمو منسوبين ورسره څه ډول چلند کوي.

۱۳. د سترې محکمې قضائي تفتيش عمومي رياست لخوا د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د يو شمېر محاکمو عادي کړنې وڅېړل شوې، ترڅو هغه قاضيان او مامورين تشخيص شي چې د صداقت، ژمنتيا او مسلکي پوهې له مخې وړتيا لري او لا زياتو مسلکي زده کړو ته اړتيا لري؛ د يادو څېړنو پر بنسټ راپورونه ترتيب او د نورو اجراآتو لپاره د سترې محکمې عالي مقام ته ولېږل شول، څو له مخې يې د يادو کسانو د ظرفيت لوړونې په موخه لازم تصميمونه ونيول شي.

## ۵- د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱. د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د قضائي مدققينو لخوا د جعل او تزوير د کرنلارې د هرې مادې شرعي تخريج بشپړ او د لا نورو اجراآتو په موخه د سترې محکمې د دارالانشاء عمومي رياست ته ولېږل شوه.

۲. د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د سترې محکمې عالي مقام د مشورتي غونډې د هدايت پر بنسټ، په محاکمو کې د نکاح خط، رضايت خط، رفع تضمين خط، د قبولي عقد بيع، عزل وکالت خط، فسخ بيع جايزي او د سرپرست خط د وثيقو د اجرا د اړتيا او عدم اړتيا په اړه د حقوقي او قضائي مطالعاتو په عمومي رياست کې د کابل ولايت د مرافعه

محکمې د دربیمې حوزې د وثیقو او سندونو د ثبت آمر، د دار الافتاء ریاست قضائي غړي او قضائي مدققینو په ملتیا غونډه ترسره شوه؛ د بحث او تبادل نظر وروسته پرې شرعي نظر ترتیب او د سترې محکمې د دار الانشاء عمومي ریاست ته ولېږل شو.

۳. د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په دربیمه ربعه کې د سترې محکمې عالي مقام د مشورتي غونډې د لومړۍ پرېکړې پر بنسټ، د حقوقي او قضائي مطالعاتو رئیس په مشرۍ، د کابل ولایت د مرافعه محکمې د دربیمې حوزې د وثایقو او سندونو د ثبت آمر او د دار الافتاء ریاست قضائي غړي په ګډه د «د وثایقو د ترتیب او اجراء تعلیمات نامه» په ۳٦ مادو کې ترتیب کړه؛ د سترې محکمې عالي مقام د هدایت سره سم، د تدقیق او مطالعاتو عمومي رئیس څو ناستې جوړې کړې، چې په کې د قضائي پلټنې عمومي رئیس، د دارالافتاء رئیس او د حقوقي او قضائي مطالعاتو رئیس هم ګډون درلود، په یادو غونډو کې اړین اصلاحات راوستل شول او متن یې د مطرح کولو لپاره د دارالانشاء عمومي ریاست ته وړاندې شو.

٤. د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴٦هـ ق کال په دربیمه ربعه کې د اسلامي نظام د اقتصادي مسؤولیتونو په سیمینار کې د «المرفاه فی احکام الزکاة» مقاله د قضائي مدققینو لخوا ترتیب او د افغانستان اسلامي امارت د علومو اکاډمۍ ریاست ته ولېږل شوه.

۵. د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴٦هـ ق کال په دربیمه ربعه کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظه‌الله تعالی) د حکم (شمېره ۳۲۵، نېټه: ۱۴۴٦/۵/۱۰هـ ق) پر بنسټ د لاجایدادي وثیقې متن په پښتو او دري ژبو ترتیب او د مشورتي غونډې د مطرح کولو لپاره د دارالانشاء عمومي ریاست ته ولېږل شو.

٦. د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴٦هـ ق کال په دربیمه ربعه کې د کوچیانو د سرخېل د وثیقې د ترتیب او عدم ترتیب په اړه د سترې محکمې عالي مقام د مشورتي غونډې هدایت پر بنسټ یوه ګډه غونډه وشوه؛ د حقوقي او قضائي مطالعاتو رئیس په مشرۍ، د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو وزارت اړوندو ریاستونو او قضائي مدققینو په ګډون پرې توافق وشو چې د کوچیانو د سرخېل ټاکنه پرته له رسمي وثیقې او د نورو انتظاماتو د بشپړولو وروسته وشي، د عزل واک دې د یاد وزارت په لاس کې وي، دغه پرېکړه د مطرح کولو لپاره د دارالانشاء عمومي ریاست ته ولېږل شوه.

۷. د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴٦هـ ق کال په دربیمه ربعه کې قضائي مدققینو د (۴۲) جزائي، (۱۴) تجارتي، (۳۳) مدني، (۳۷) د وثایقو، (۳۷) متفرقه او (۱۳۸) د قضائي تفتیش راپورونو سربېره، پر (۷) د عریضه کوونکو عرایضو، (۷۲) مکتوبونو او (۲) مستردو موضوعاتو تفصیلي تدقیقي نظریات وړاندې کړل، چې اړوندو ادارو ته د اجرا لپاره وسپارل شول.

۸. د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴٦هـ ق کال په دربیمه ربعه کې د استهداآتو په اړه د وضاحت کړنلاره د قضائي مدققینو لخوا تر جدي غور او تحقیق لاندې ونیول شوه؛ چې له پیل څخه تر پایه د اسلامي امارت د اصولو او نافذه قوانینو په چوکاټ کې ترتیب او تنظیم شوې ده، وروسته دغه کړنلاره په عمومي مجلس کې چې د حقوقي او قضائي مطالعاتو د رئیس په مشرۍ جوړه شوې وه، تر تفصیلي بحث لاندې ونیول شوه او نهایي شوه، ورپسې د سترې محکمې د عالي شورا په غونډه کې د مطرح کولو په موخه، د رسمي مکتوب له لارې د سترې محکمې دارالانشاء عمومي ریاست ته ولېږل شوه.

۹. د تدقیق او مطالعاتو عمومي ریاست د ۱۴۴٦ هـ ق کال په دربیمه ربعه کې د ولایاتو مرافعه محاکمو د رئیسانو د دندو او صلاحیتونو د مقررې بیا کتنه، د ښاري ابتدائیه او د ولسوالیو ابتدائیه محاکمو، د مرافعه محاکمو د لایحې په نوم په پنځو فصلونو او ۲۵ مادو کې ترتیب شوې، چې د تصویب په پار د دارالانشاء عمومي ریاست ته لېږل شوې ده، د ذکر شوې لایحې د بیا کتنې لپاره عالي شورا،

اداري معاونيت ته هدايت ورکړی و، ترڅو ياده لايحه د اداري معاونيت لخوا بيا ځلې دغه رياست ته راواستول شي؛ ياده لايحه د اصلاحاتو په پام کې نيولو سره بياځلې په څلورو فصلونو او ۲۳مادو کې د تخريج سره ترتيب او تنظيم شوه او د ستړې محکمې د عالي شورا کې د مطرح کولو په پار د دارالانشاء عمومي رياست ته ولېږل شوه.

۱۰. د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې قضائي مدققينو د ستړې محکمې د دارالانشاء رياست د فعاليتونو او اجراآتو د تنظيم کړنلاره د نافذه قوانينو په چوکاټ کې ترتيب او تنظيم کړه؛ د هرې مادې تخريج يې هم وکړ، وروسته دغه کړنلاره د ستړې محکمې عالي شورا کې د مطرح کولو په پار د دارالانشاء عمومي رياست ته ولېږل شوه.

۱۱. د تدقيق او مطالعاتو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ستړې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۳/۹/۵هـ ق نېټې د لارښوونو پر بنسټ، قضائي مدققينو د قطعي او نهائي پرېکړو او قرارونو يو جلد کتاب ترتيب کړ، چې ۴۱ پرېکړې لري، موخه يې داده چې محاکم په آسانی، له نېمګړتياوو او ځنډ پرته خپلې پرېکړې او قرارونه وليکي، ياد لارښود د ستړې محکمې د عالي شورا د تصويب لپاره وړاندې شو، عالي شورا په دې اړه لارښوونه وکړه چې د دغه لارښود يوه کاپي د مرکزي تميز اړوند ټولو دېوانونو، د قضائي زده کړو رياست، د قضائي تفتيش رياست او د کابل ولايت د مرافعې محکمې د تجارتي دېوان رياست ته د بيا کتنې او نظر اخيستنې لپاره ولېږل شي؛ دغه رياستونه دې د يوې اونۍ په ترڅ کې خپل نظريات د تفتيش عمومي رياست سره شريک کړي، د تفتيش رياست د شيوخ او علماوو نظريات د توحيد وروسته د دارالانشاء عمومي رياست د وړانديز له لارې د ستړې محکمې عالي مقام ته وړاندې کړل چې د عالي مقام له هدايت وروسته ياد د لارښود کتاب چاپ او محاکمو ته توزيع شي.

## ٦- د ستړې محکمې عالي مقام تحريراتو رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د ستړې محکمې عالي مقام تحريراتو رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱ـ د ستړې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست ته د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين (حفظه‌الله تعالی) (۳) قطعي فرمانونه، د رياست الوزراء عالي مقام (۱۰٦) حکمونه او د کابينې (۳) قطعي مصوبات راغلي دي؛ چې د ستړې محکمې د عالي مقام تر لارښوونو وروسته د نورو اجراآتو لپاره اړوند مراجعو ته لېږل شوي دي.

۲ـ د ستړې محکمې عالي مقام تحريراتو رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د مخابراتو وزارت څخه (۱۱۱۲) قطعي مکتوبونه ترلاسه کړي؛ چې اړوندو شعبو ته توزيع شوي دي.

۳ـ د ستړې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست ته د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د وزارتونو، امارتي ادارو، کمېسيونونو، د هېواد د (۳۴) ولايتونو د محاکمو او نورو اړوندو ادارو څخه (۵۹۵) رسمي مکتوبونه د ستړې محکمې په عنوان را رسېدلي؛ چې د عالي مقام له هدايت وروسته اړوندو مراجعو ته د وروستيو اجراآتو لپاره لېږل شوي دي.

۴ـ د ستړې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست لخوا د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ستړې محکمې (۵) وړانديزونه د رياست الوزراء مقام ته د منظورۍ او تصويب په موخه وړاندې شوي دي.

۵ـ د ستړې محکمې عالي مقام د تحريراتو رياست ته د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د رياست الوزراء، د نظارت لوی رياست، وزارتونو، سازمانونو، شرکتونو، امارتي او غير امارتي بانکونو او د ستړې محکمې مرکزي رياستونو له لوري (۱۱٦٦) مکتوبونه، د استهداء برخې دوسيې، د تجديد نظر غوښتنې، د صلاحيت تفويض، د محکمې د تبديلۍ او د هېواد د بېلابېلو محاکمو د هدايت غوښتنې

ترلاسه شوې، چې د عالي مقام له هدایت وروسته اړوندو اداروته د اجراآتو لپاره سپارل شوي دي.

۶ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې (۱۴۸۳۴) قطعې مکتوبونه او پارسلونه د ارشیف له لارې صادر او وارد شوي؛ چې اړوندو برخو ته تسلیم او انتقال شوي دي.

۷ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د هېواد له ټولو ولایتونو، د مرافعه محاکمو څخه (۱۹۴) قطعې مکتوبونه د سترې محکمې د مخزن عمومي مدیریت ته راغلي؛ چې د هغې له جملې څخه (۱۶۶) قطعې مکتوبونه د قبالو او نورو وثایقو د معلوماتو په اړه وو او په اړه یې اړوندو مراجعو ته معلومات وړاندې شوي دي.

۸ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست لخوا د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې (۲۸) قطعې مکتوبونه، (۱۶۰) جلده کتابونه چې (۱۴۰۰، ۱۴۰۱ او ۱۴۰۲هـ.ش) کلونو د وثیقو کلني راپورونه په کې شامل وو؛ د ساتنې په موخه مخزن ته تسلیم او ځای پر ځای شوي دي.

۹ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د اداري معاونیت او د مالي او اداري چارو عمومي ریاست اړوند (۴۰) سوابق په مخزن کې ثبت او ساتلي دي.

۱۰ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د مراجعینو (۲۵۰۷) عرایض د مقام د هدایت پر بنسټ ثبت کړي او تر اجراآتو وروسته یې خپلو مراجعینو ته بېرته ور سپارلي دي.

۱۱ـ د سترې محکمې عالي مقام د تحریراتو ریاست لخوا د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې (۸۶) دعوه کوونکو او د بهرنیو ادارو استازو ته چې د پارسلونو یا مکتوبونو ترلاسه کوونکي وو؛ د اړینو معلوماتو تر وړاندې کولو وروسته د هدایت مطابق اړوند شعبو ته لارښوونې ورکړل شوې دي.

## ۷- د سترې محکمې د دار الافتاء ریاست د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېیمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د دار الافتاء ریاست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې فعالیتونه سرته رسولې دي:

۱- د سترې محکمې د دار الافتاء ریاست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د قضایاوو اړوند حقوقي او شرعي اړخونو د روښانوالي، د شرعي اصولو د پلي کېدو او د محاکمو د قضائي پرېکړو د تقویت په موخه (۱۰) شرعي فتواګانې صادرې شوې دي؛ یادې فتواګانې د بېلابېلو موضوعاتو په تړاو صادرې شوې، چې د محاکمو د قاضیانو او قضائي منسوبینو د شرعي لارښوونې لپاره کارول کېږي او د قضایاوو د حل او فصل لپاره مستند شرعي بنسټ برابروي.

۲- د سترې محکمې د دار الافتاء ریاست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې یو تن بهرنی تبعه، د تحقیق، پوهاوي او خپل اختیار له مخې د اسلام په مبارک دین مشرف شوی دی؛ د یاد ریاست لخوا د اسلامي اصولو مطابق، د نوموړي د اسلام قبلولو بهیر د اړوند قضائي چارواکو له لوري ثبت او تائید شوی، ورسره یې د اسلام مبارک دین قبلولو رسمي تصدیق پاڼه هم ترلاسه کړې؛ چې دا بهیر د اسلامي ارزښتونو د خپرېدو ترڅنګ د قضائي ادارو د دیني خدمتونو یوه مهمه لاسته راوړنه ګڼل کېږي.

۳- د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېیمه ربعه کې د سترې محکمې د دار الافتاء ریاست کتابتون رامنځته شو؛ چې د سترې محکمې عالی مقام لخوا ورته یو شمېر کتابونه په څو مرحلو کې واخېستل شول او د یاد ریاست په واک کې ورکړل شول.

## ۸- د سترې محکمې حقوقو عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق د درېیمې ربعې د فعالیتونو لنډ راپور

د سترې محکمې اړوند د حقوقو عمومي ریاست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېیمه ربعه کې لاندې فعالیتونه ترسره کړي دي:

۱. د حقوقو عمومي رياست لخوا د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د حقيقي او حکمي اشخاصو د کارونو د سرته رسولو په موخه (۷۱۱۰۲) قطعې حقوقي عريضې ثبت او تر اجراآتو لاندې دي.

۲. د حقوقو عمومي رياست لخوا د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د مصالحې له لارې (۱۲۱۰۲) حقوقي قضيې حل او فصل شوې دي.

۳. د حقوقو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې (۱۶۸۶) قطعې او نهائي شوې فيصلې او قرارونه تطبيق کړي دي.

## ۹- د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه سرته رسولې دي:

۱- د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د سترې محکمې د ديني روزنې او اصلاحي برنامو په دوام، د سهار له لمانځه وروسته د منسوبينو لپاره د قرآن کريم د تفسير او ترجمې درسونه دوام لري؛ چې د ګډونوالو د ديني پوهاوي، فکري اصلاح، او روحاني ودې کچه يې په ښکاره ډول لوړه کړې ده.

۲- د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ديني نصاب تدريس په نوې بڼه وړاندې شوی، چې په ياد نصاب کې د اسلامي احکامو، فقهي مسائلو، شرعي لارښوونو، د معاصر اسلامي فکر، عقيدوي وضاحت او اخلاقي اصلاحاتو موضوعات ځای پر ځای شوي، څو د کارکوونکو ديني روزنه له نوي فکري زاويې سره بشپړه شي.

۳- د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ديني اصلاح او معنوي بيدارۍ د پياوړتيا لپاره، د سترې محکمې د مرکزي رياستونو او محاکمو، امنيتي او اجرائيوي چارو رياست لپاره د دوشنبې او پنجشنبې په ورځو کې منظم اصلاحي بيانونه تنظيمېږي؛ چې په دې بيانونو کې د عدالت تامين، اداري اخلاقو او سلوک، د فساد مخنيوی، د ديني اصولو مراعات او د اسلامي نظام د تطبيق اهميت په واضحه توګه تشريح کېږي.

۴- د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د هغو کارکوونکو لپاره چې نالوستي يا کم سواده دي؛ ځانګړې ديني حلقې جوړې کړې، ترڅو د اسلامي عقايدو، لمونځ، روژې، زکات او نورو اساسي احکامو تدريس ورته وشي، د ليک او لوست د مهارتونو لوړولو په موخه د اسلامي نصوصو پر بنسټ ابتدائيه کورسونه پيل شوي، چې له لارې يې نالوستو منسوبينو ته د ديني زده کړو ترڅنګ، د ليک او لوست عملي زده کړه هم ورکول کېږي.

۵- د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د کارکوونکو د اصلاح او اخلاقي پرمختګ په برخه کې، د سيرت، اخلاقو او اداري نظم جدي څارنه شوې؛ د ديني ارزښتونو پر بنسټ هغوی ته اخلاقي مشورې، سپارښتنې او د مسؤوليتونو د ښې اداينې ترغيب ورکړل شوی. همداراز د ياد رياست لخوا د اسلامي اخلاقو، د اداري فساد مخنيوي او د عدالت تامين اړوند مهم اصول، نظامي او اداري کارکوونکو ته په واضح ډول بيان شوي دي، څو د شرعي معيارونو پر بنسټ د نظام اصلاح تضمين شي.

۶- د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د ديني زده کړو د ارزونې په موخه د مرکزي رياستونو د منسوبينو زده کړې ارزول شوې، کلنۍ ازموينه ترې واخېستل شوه او په يادې ازموينه کې بريالي کسانو ته ډالۍ او تقديرنامې ورکړل شوې، ترڅو د ديني زده کړو هڅونه نوره هم پياوړې شي.

۷- د سترې محکمې د دعوت او ارشاد رياست لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د حکم (شمېره ۳۵۴/۲۶۲۴، نېټه ۱۴۴۶/۵/۲۳) له مخې، د امر بالمعروف او نهي عن المنکر

د قانون د تطبيق لپاره ځانګړي کمېټه جوړه شوه؛ څو د ياد قانون عملي تطبيق تضمين او د ټولنې اصلاحاتي بهير لا چټک شي.

## ۱۰- د سترې محکمې د مرکزي تميز رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د عالي شورا د هدايت په اساس د مرکزي تميز رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې خپل مسؤولانه او دقيق فعاليتونه په لاندې ډول تر سره کړي دي:

۱_ د مرکز او ولايتونو له بېلابېلو قضائي او اداري ادارو څخه مجموعاً (۱۶۵۹) قطعې رسمي مکاتب دې رياست ته رسېدلي، چې له جملې يې (۱۴۹۰) قطعې تر لازمې څېړنې وروسته اړوندو مراجعو ته استول شوي دي او پاتې (۱۶۹) قطعې مکاتب تر څېړنې او کار لاندې دي.

۲_ د تېرې اداري د فيصلو او نورو قضائي مواردو اړوند، د ځانګړو محاکمو په ګډون، ټول (۳۰۸۳) جلده دوسيې مرکزي تميز رياست ته سپارل شوي دي، له دې جملې څخه: (۱۲۸۹) جلده دوسيې د تميز غوښتنې په موخه پنځه ګونو ديوانونو ته تسليم شوې دي؛ (۲۳۹) جلده حقوقي، (۱۰۳) جلده جزائي او (۲۸۳) جلده متفرقه دوسيې اړوندو محاکمو او اړوند مرکزي او ولايتي ادارو ته د اجراآتو لپاره لېږل شوي دي او (۵۴۶) جلده دوسيې لا هم تر څېړنې او کار لاندې دي.

۳_ د ځانګړو محاکمو اړوند (۸۰۳) جلده دوسيې د قضائي غړو له خوا وارزول شوې، چې له ډلې يې: (۲۴۲) جلده دوسيې تائيد د تطبيق په موخه اړوندو ادارو ته سپارل شوې دي؛ (۵۶۱) جلده دوسيې د لازم تحليل وروسته مسترد او بېرته ځانګړو محاکمو ته د شرعي اجراآتو لپاره استول شوې دي.

۴_ د دعوې له اصحابو څخه د شکايتونو، غوښتنو او عرايضو په ترڅ کې، (۲۴۵۵) قطعې عرايض دې رياست ته رسېدلي، چې له دې شمېرې: (۱۷۵۶) عرايض د حکم او څېړنې وروسته عارضينو ته تسليم شوي؛ (۴۸۶) قطعې غيرمربوطه عرايض مسترد شوي او (۲۱۳) عرايض له موجوده دوسيو سره ضميمه شوي، تر څو يو ځای شوي دي.

۵_ د پنځه ګونو ديوانونو رئيسانو له خوا (۳۴۳) جلده دوسيې د مشورې او قضائي پرېکړې لپاره د مرکزي تميز رياست سره شريکې شوې دي، چې له دې ډلې: (۲۷۲) جلده دوسيې تائيد شوي او (۷۱) جلده دوسيې مسترد او د شرعي فيصلو د تعقيب په موخه اړوندو مراجعو ته استول شوي دي.

دا ټول فعاليتونه د دې نښه ده چې مرکزي تميز رياست د قضائي شفافيت او مؤثرې شرعي فيصلې لپاره پر خپلو مسؤوليتونو کلک ولاړ دی او د قضائي عدالت د تأمين لپاره يې پر وخت او دقيق اقدامات تر سره کړي دي.

## ۱۱- د سترې محکمې د قضائي زده کړو رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو راپور

۱- د سترې محکمې د عالي شورا د هدايت پر اساس، د قضائي زده کړو رياست د ۱۴۴۶ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې د قضائي کادر د علمي او مسلکي ظرفيت لوړولو په موخه يوه درې مياشتنۍ زده‌کړېزه دوره په برياليتوب سره ترسره کړه، په ياده علمي دوره کې، د هېواد له بېلابېلو ولايتونو څخه ۲۱۲ تنه مجرب او بريالي علماوو ته بلنه ورکړل شوې وه، چې له دې جملې څخه ۱۶۰ تنو يې فعال ګډون وکړ او له علمي بحثونو، درسي موادو او روزنيزو چارو څخه يې پراخه ګټه واخيسته.

۲- په ورته مهال، د کارکوونکو چارو عمومي رياست له لوري د جنوب غرب زون اړوند ۷۱ تنه علماء د شپږ ورځنۍ وروستي امتحان لپاره معرفي شوي وو، چې له دې جملې څخه ۵۹ تنو په ياد امتحان کې عملي ګډون وکړ.

۳- که څه هم د درسي کتابونو د تأليف، بياکتنې او څېړنې برخه د ستراتيژيک پلان يوه بنسټيزه برخه بلل شوې، خو تر اوسه د سترې محکمې د عالي مقام له لوري پدې برخه کې کومه مشخصه لارښوونه نه ده صادره شوې، له همدې امله، د باصلاحيته مقاماتو د موقتي هدايت پر

بنسټ، يوازې لنډمهاله او منځمهاله روزنيز پروګرامونه تنظيم شوي، چې له مخې يې د مرکزي او ولايتي محاکمو قاضيانو، مفتيانو، محررينو او د قضائي زده کړو دورو ته بريالي شوي علماوو ته لاندې مضامين تدريس شوي:

۱_ اداري او حقوقي اصولنامه.

۲_ معين القضاة و المفتين.

۳_ د وثايقو لارښود.

۴_ تمسک القضاة الامانيه.

۵_ مجلة الاحکام.

۶_ زادالقضاء.

۷_ زادالافتاء و الاستفتاء.

۸_ اصول الافتاء.

۹_ الاملاء و الترقيم.

۱۰_ کمپيوټر.

دا علمي او مسلکي روزنه، نه يوازې د قضائي کادر ظرفيت لوړوي، بلکې د قانون د حاکميت، د عدالت د تأمين او د عدلي چارو د شفافيت لپاره بنسټيزه کړنه ده، د سترې محکمې قضائي زده کړو رياست، په دوامداره توګه هڅه کوي چې د علم او تخصص په رڼا کې، د هېواد د عدلي نظام لپاره باصلاحيته، مجرب او ژمن کادرونه وروزي.

## ۱۲- د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د کارکوونکو چارو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱_ د بهرنيو چارو وزارت د ډيپلوماسۍ انسټيټوټ په تخنيکي همکارۍ سره، د ډيپلوماسۍ درې مياشتنۍ روزنيزه دوره چې مخکې پيل شوې وه، د سترې محکمې د مرکزي رياستونو له (۳) ګډونوالو سره په برياليۍ توګه پای ته ورسېده، دا روزنه د نړيوالو تعاملاتو د درک او اړوندو مهارتونو د لوړولو په موخه ترسره شوې ده.

۲_ د اداري چارو د لا ښه تنظيم او د کارکوونکو د ظرفيت لوړونې لپاره، د سترې محکمې د اداري کارکوونکو د اجراآتو ارزونې په موخه د هغوی د شهرت جدولونه د ټاکلي مهالوېش سره سم ترتيب او تنظيم شوي، ترڅو پر بنسټ يې د هر کارکوونکي وړتيا و ارزول شي.

۳_ د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېيمې ربعې په جريان کې، د سترې محکمې لپاره (۱۴۶) اداري کارکوونکي استخدام شوي دي، ترڅو اداري چارو ته لا زيات نظم او چټکتيا ورکړي.

۴_ د سوانحو دفتر په برخه کې، د استخدامي مراحلو له بشپړېدو وروسته، (۱۹۰) جلده قضائي، (۱۸۱) جلده اداري او (۳۴) جلده د خدماتي کارکوونکو سوانح ترتيب او تحرير شوي دي.

۵_ د درېيمې ربعې په ترڅ کې، (۷۴) تنه متعهد قاضيان د ترفيع يا ټاکنې لپاره د مشرتابه عالي مقام ته پيشنهاد شوي دي، ترڅو د وړتيا، صداقت او تعهد له مخې له هغوی څخه اعظمي استفاده وشي.

۶_ سترې محکمې د هېواد په کچه د (۴۲۲) ولسواليو لپاره د ابتدائيه محاکمو تشکيلات ترتيب کړي دي، له دې جملې څخه د کندهار ولايت د سپين بولدک، د هرات د انجيل، او د کندوز د امام صاحب ولسواليو ابتدائيه محاکم د جوړ شوي ساختار له مخې فعالې دي، چې هره يوه يې د اړوندو ديوانونو په چوکاټ کې قانوني خدمات وړاندې کوي.

۷_ د مرکزي زون د عالي تميز، جزا، امنيت عامه، مدني، تجارتي او نظامي ديوانونو، د کابل ښاري ابتدائيه او مرافعه محاکمو او د اسنادو او وثايقو د ثبت آمريتونو د کارکوونکو لپاره، د «اداري مراسلاتو» تر عنوان لاندې (۶) روزنيز سيمينارونه د سترې محکمې روزنيز مرکز کې ترسره شوي دي.

۸_ همدارنګه، د يادو ادارو د کارکوونکو لپاره، د «پلان جوړونې اساسات» تر عنوان لاندې (۶) نور روزنيز سيمينارونه هم ترسره شوي، ترڅو د پلان جوړونې په برخه کې د هغوی علمي ظرفيتونه لوړ شي.

۹_ د سترې محکمې د محافظتي قطعې د منسوبينو د

مسلکي ظرفيت لوړولو په موخه، درې (۳) تعليمي ټولګې د تخنيکي ادارو په همکارۍ د سترې محکمې روزنيز مرکز او د محاکمو د امنيتي چارو په رياست کې پيل شوي او لا هم دوام لري.

۱۰_ د اسنادو او وثايقو د ترتيب او تحرير په برخه کې، د کابل ولايت د ښاري ابتدائيه او مرافعه محاکمو او د ثبت آمريتونو د کارمندانو لپاره، (۵) روزنيز سيمينارونه د سترې محکمې د روزنيز مرکز په همغږۍ ترسره شوي دي.

۱۱_ همداراز، د محاکمو د اداري سيستم بنسټيزو مهارتونو د لوړولو لپاره، د مرکزي زون اړوندو ادارو لپاره (٦) روزنيز سيمينارونه تنظيم شوي، ترڅو د مؤثرو او شفافو اداري خدماتو وړاندې کولو ته لاره هواره شي.

## ۱۳- د سترې محکمې د مالي او اداري چارو عمومي رياست د ۱۴۴۶هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې اړوند د مالي او اداري چارو عمومي رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې مهم فعاليتونه ترسره کړي؛ چې د مؤثر سيستم، شفافې اداري او چټکو خدماتو وړاندې کولو ته د رسېدو هڅې په کې په ډاګه دي.

۱_ د ترانسپورټي چارو تنظيم په برخه کې د ف س ۹ له ۳٦۳ تر ۴۹۰ پورې د مختلف النوع وسايطو لپاره (۱۲۷) حوالې ترتيب شوې، همداراز د عالي مقام د حکم پر اساس (۷) عرادې وسايط مرکز او ولايتي محاکمو ته توزيع شول، د پټرولو او ډيزلو لپاره (۴۵۵) حوالې، د روغنياتو لپاره (۱۲۹) حوالې او (۴۵۵) سير و سفر کتابچې ترتيب شوې.

تخنيکي ورکشاپ کې بېلابېل وسايط ترميم شوي او (۱۸) عرادې شورليټ موټرو لپاره جواز السيرونه او پليټونه ترلاسه شول.

۲_ د بيارغونې او رغنيزو فعاليتونه په برخه کې، د جنراتورونو لپاره سايه‌بانونه جوړ شول، د مالي، اداري او نشراتو رياستونو لپاره د برق کيبلونه تمديد شول، د دفترونو لپاره الماري او د VIP ساحې لپاره (۲) امنيتي برجونه نصب شول، د کابل ولايت د وثايقو د اساسي تعمير پروژه ۵۰٪ تطبيق شوې او (۲) دهلېزونه اساسي بيا رغول شوي، همداراز، د کابل مرافعه محکمې د مراجعينو لپاره نوې لاره او د تلاشۍ کانکس نصب شوی دی.

۳_ د روغتيايي خدماتو په برخه کې، د سترې محکمې کلينيک ته (۲۰۱۲) تنه کارکوونکو د درملنې لپاره مراجعه کړې، له دې جملې څخه (۱۱۲) تنه روغتونونو ته معرفي، (٦۳۸) ناروغانو ته لابراتواري معاينات او (۸۸۹) ناروغانو ته پانسمان، زرقيات، سيروم، اکسيجن‌تراپي او د زړه ګراف تطبيق شوي.

۴_ اداري او قضائي چارو لاسته راوړنو په برخه کې، د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله تعالی د حکم پر اساس، د پغمان ولسوالۍ د فرامينو دوه منزله تعمير ابتدائيه محکمې ته تسليم شو، همداراز د قضائي تعليماتو رياست لخوا (۱۷۲۳) قلمه داغمه اجناس د ځانګړي پلاوي په شتون کې ليلام شول.

۵_ اجناسي او بشري منابعو په برخه کې، د مرکزي رياستونو (۲۸۰) اجير کارکوونکو ته لباسونه پېرل او توزيع شول، د ماليې وزارت د متحدالمآل او د عاليقدر اميرالمؤمنين حفظه الله د فرمان پر اساس، (٦۸۰) تنه د تقاعد مستحق قضائي، اداري او خدماتي منسوبينو ته د ۸٪ تقاعد سهميه ورکړل شوه.

## ۱۴- د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴٦ هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د پلان او پاليسۍ رياست د ۱۴۴٦ هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه سرته رسولي دي:

۱. مرکزي رياستونو ته مکتوبونه لېږل شوي تر څو د سترې محکمې د ترسره شويو پلاني او غير پلاني فعاليتونو راپورونه راټول شي.

۲. د پلان مطابق د دويمو واحدونو څخه د مياشتني راپور راټولولو لړۍ له ۳۴ ولايتي مرافعه محاکمو څخه دوامداره

ده؛ راپورونـه تـر توحیـد وروسـته د اداري معاونیـت، قضائي تفتیش عمومـي ریاست او د کارکوونکو چـارو عمومـي ریاسـت تـه د اجراآتـو لپـاره لېږل کېږي؛ همـدا راز ربعـوار راپورونـه پـه ټاکلي وخت کـې راټولیږي او اړونـدو ادارو، لکه د امـر بالمعـروف وزارت، د چـارو اداري لـوی ریاسـت، د مقـام دفتـر او اداري معاونیـت تـه اسـتول کېږي.

۳. د سـتراتیژیک پـلان پـر بنسـټ، د دربیمـي ربعـې لپاره د نظارت او ارزونې موخو لپاره ځانګړي چک لېستونه ترتیب شـوي، چې د ریاسـتونو د فعالیتونو د څارنې او ارزونې لپاره کار تـرې اخیسـتل کېږي، یـاد چـک لېسـتونه ټولـو اړونـدو مرکـزي ریاسـتونو تـه اسـتول شـوي، ترڅـو معلومـه شي چې فعالیتونـه د پـلان سره سـم اجـراء شـوي دي او کنه؟

٤. د ۱۴۴۶ هــ ق کال د دریمـې ربعـې احصائیـوي فورمې تر ډکولـو وروسـته ملي احصائیـې اداري ته لېږل شـوې دي.

۵. د ۳۴ ولایتونـو د محاکمـو، د تمیـز ۱۰ دېوانونـو د قضـائي اجراآتـو او د حقوقـو عمومـي ریاسـت د کاري اجراآتـو جدول ترتیـب شـوی او د قضائي تفتیـش د (مرکـز او جنوب غرب) زونونـو ریاسـتونو تـه د محاکمـو د اجراآتـو د ارزونـې لپـاره اسـتول شـوی دی.

٦. د ۳۴ ولایتونـو د محاکمـو د قضیـو د رسـېدنې راپـور د ۱۴۴۶ هــ ق کال د دویمـې ربعـې لپـاره، د مـالي او اداري ریاسـت تـه اسـتول شـوی دی.

۷. د فتحـې لـه نېټـې څخـه د ۱۴۴٦ هــ.ق کال تـر دویمـې ربعـې پـورې د ابتدائیـه، مرافعـه او تمیز محاکمـو، حقوقـو عمومـي ریاسـت او وثایقـو د اجراآتـو راپور ترتیب شـوی او د بهرنیـو، عامـه اړیکـو او مطبوعاتـو ریاست ته اسـتول شـوی دی.

۸. د محاکمـو د (۱۴۰۰، ۱۴۰۱، ۱۴۰۲، ۱۴۰۳ هــ ش کلونـو) د وثایقـو اجراآتـو راپـور ترتیـب او د بهرنیـو، عامـه اړیکـو او مطبوعاتـو ریاسـت تـه لېږل شـوی دی.

۹. د تمیـز عـالي ریاسـتونو د (۱۰) دېوانونـو او د ۳۴ ولایتونـو د محاکمـو د دربیمـې ربعې راپورونه ترتیـب او په احصائیې ډیتابیس کې ثبت شـوي دي.

۱۰. د افغانسـتان اسـلامي امـارت د محترمـې کابینـې د پرېکـړو د ابـلاغ، تعقیـب، ترتیـب او راپورونـو د راټولولـو پـه برخـه کـې تـل لازم اجـراآت تـرسره شـوي دي.

۱۱. د کابینـې د (۱۱مـې) شـمېرې، (۱۴۴٦/۹/۱۷ هــ ق) نېټـې مصوبـې د (۱، ۲، ۳) بندونـو راپـور ترتیـب او چارو اداري لوی ریاست ته اسـتول شـوی دی.

۱۲. د ۱۴۴۵ هـ ق کال د شپږو احکامو (۴۹۰۹ - ۴۹۸۸ - ۵۰۸۳ - ۵۰۸۵ - ۵۰۸۷ – ۵۵٦۸) د تطبیق راپور ترتیب او د احکامو او فرامینو د نظارت لوی ریاست ته لېږل شـوی دی.

۱۳. د ۱۴۴٦ هـ ق کال په جریان کې د عالیقدر امیرالمؤمنین (حفظهالله) د ۲۸ قطعـې احکامـو (۱۲۷٦ - ۱۲۸۰ - ۱۲۸۱ - ۱۳۷۹ - ۱۵۹۴ - ۲۱۸۴ - ۲۲۲۱ - ۲۲۲۳ - ۲۳۱۳ - ۱۹۸۱ - ۱۹۰۵ - ۱۸۹۱ - ۱۸۱٦ - ۱۷۷۲ - ۱٦۴۴ - ۱٦۴۳ - ۱٦۳۷ - ۱۵۹۵ - ۱۹۴۵ - ۲۵۵۵ - ۲۵۵۲ - ۱۹۹۸ - ۱۹۷۴ - ۲۰۷۴ - ۲۰۸۱ - ۲۲۴۱ - ۲۲۵۱ – ۲۲٦۹) د تطبیـق راپـور ترتیـب او اړونـد ادارو تـه اسـتول شوی دی.

۱۴. د ریاسـتالوزراء عـالي مقـام د (۱۰۰مـې) شـمېرې، ۱۴۴٦/۱/۴ هـ ق نېټـې حکـم د تطبیق راپـور ترتیب او د چارو اداري لـوی ریاسـت تـه لېږل شـوی دی.

۱۵. د سـترې محکمـې د بهرنیـو، عامـه اړیکـو او مطبوعاتـو ریاسـت د غوښـتنې مطابق د ۱۴۴٦ هـ ق کال د دویمې ربعې لپـاره د مرکـزي ریاسـتونو د فعالیتونـو راپور ترتیـب، توحید او پـه "قضـاء" مجله کـې د چـاپ او نـشر لپـاره لېږل شـوی دی.

۱٦. لـه پنځـه کلـن سـتراتیژیک پـلان څخـه د یـو کلـن پـلان تجریـد، ترتیـب او تنظیـم تـرسره شـوی دی.

۱۷. اقتصـاد وزارت تـه د هغـوی د مطالبـې پـه اسـاس د سـترې محکمې د منسـوبینو د ظرفیت لوړونې سـتراتیژیک پلان راپـور اسـتول شـوی دی.

۱۸. د ۱۴۰۴ هــ ش مـالي کال لپـاره د سـترې محکمـې د منسـوبینو د ظرفیـت لوړونې پلان ترتیب او اقتصـاد وزارت تـه لېږل شـوی دی.

۱۹. د دربیمـې ربعـې لپـاره د ۳۴ ولایتونـو د مرافعه محاکمو

د حاضريو راپور د ۱۴۴٦ هـ ق کال ترتيب، توحيد او اړوندو مراجعو ته استول شوی دی.

۲۰. د دويمې ربعې لپاره د ښځو د ميراث او ملکيت حقوقو ته د لاسرسي راپور ترتيب شوی او د درېيمې ربعې راپور تر کار لاندې دی.

۲۱. د يو کلن پلان مطابق د دويمې ربعې لپاره د مرکزي رياستونو پلان شوي او غير پلاني فعاليتونه ترتيب او د چارو اداري لوی رياست ته استول شوي دي.

۲۲. د سترې محکمې د کلني پلان له مخې، د پاليسيو، طرزالعملونو، لارښودونو، موجوده او اړينو ميکانيزمونو د معلوماتو راټولولو لپاره پوښتنليکونه د مرکزي رياستونو سره شريك شوي وو، چې له راټولو وروسته په ټاکلي فارمټ کې ترتيب او يوځای شول او اړوند جدول د مقام د اصولو مطابق شريک کړل شوی دی.

۲۳. د ماليې وزارت له خوا د بوديجې اوربدنې په غونډه کې ګډون شوی او د موضوع اړوند نظريات وړاندې شوي دي.

۲۴. د چارو اداري لوی رياست له خوا جوړ شوي ورکشاپ کې چې د پلان او راپور ورکولو په تړاو ترتيب شوی و، ګډون شوی دی.

۲۵. د ۱۴۴٦ هـ ق کال د درېيمې ربعې لپاره د پلان مطابق د مرکزي رياستونو د اداري فعاليتونو د څارنې پروسه په حضوري ډول پيل شوې ده.

۲٦. د سترې محکمې داخلي مسجد پراخولو کار، د کابل د ښاري محکمې د مسجد د جوړېدو، د کتابتون د پراخېدو لپاره د ډيزاينونو ترتيب او د کار څارنه، په جنګلک کې د تعليمات قضائي اړوند مسجد د بيارغونې کار دوامداره څارنه شوې ده.

۲۷. د تدارکاتو ملي رياست د تخنيکي معاونيت د (۴مې) شميرې تعديل په اساس، د ټولو امارتي ادارو لپاره د IMS ډيجيټل سيستم خدمات وړاندې کولو قرارداد د افغان ټليکام مخابراتي شرکت سره ترسره شوی دی.

۲۸. د مالي او اداري چارو عمومي رياست د رسمي وړانديز پر اساس، د محاکمو د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست لپاره IMS Voice over IP سيستم په امتحاني ډول فعال کړی دی، چې له هغه څخه اوس مهال استفاده روانه ده. په راتلونکي پلان کې، د سترې محکمې د دفترونو لپاره هم دا سيستم فعال کول په پام کې دي.

## ۱۵- د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال د درېيمې ربعې د فعاليتونو لنډ راپور

د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست د ۱۴۴٦هـ ق کال په درېيمه ربعه کې لاندې فعاليتونه ترسره کړي دي:

۱. د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست اړوند مرکزي او ولايتي نظامي پرسونل ته درې (۳) دورې دوه مياشتنۍ مسلکي او نظامي معسکراتي زده کړې وړاندې شوې دي؛ همدارنګه د ياد رياست اداري کارکوونکو ته د مسلکي پرمختګ او ظرفيت لوړونې په موخه يو (۱۵) ورځنۍ عملي روزنيز سيمينار ترسره شوی دی.

۲. د کابل ښاروالۍ عمومي رياست ته د سترې محکمې د امنيتي او اجرائيوي چارو رياست د تعليمي مرکز ميدان جوړولو په موخه وړانديز شوی و، د ياد رياست له لوري يې ۱۰۰ سلنه کار تکميل او ترسره شوی.

۳. د ملکي محاکمو امنيتي قطعاتو قوماندانۍ اړوند نيمه کاره تعميرات چې ۳۰ سلنه چارې يې تکميل او نورې چارې به يې د ۱۴۰۴هـ ش کال د ورې مياشتې په جريان کې پيل شي.

٤. د عيناتو او اجناسو د ساتنې په موخه (۱۴) کانټينرونه خريداري او اکمال شوي دي.

۵. د دغه رياست او اړوند جزوتامونو د نظامي پرسونل يونيفورم ګنډلو چارې بشپړې او ډيپوګانو ته يې اکمالات ترسره شوي دي.

## ۱۶- د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست د ۱۴۴۶ هـ ق کال د درېیمې ربعې لنډ راپور

### د بهرنیو اړیکو آمریت:

| شمېره | کاري اجراآت | تفصیلات |
|---|---|---|
| ۱ | **له داخلي او نړیوالو موسساتو سره د همکارۍ برخه کې** | • ایران ته د سترې محکمې د مسؤولینو د سفر په اړه له بهرنیو چارو وزارت سره همغږي شوې ده.<br>• د یوناما له استازو سره یوه غونډه ترتیب او ترسره شوې ده.<br>• د سرې میاشتې له استازي سره یوه غونډه ترتیب او ترسره شوې ده.<br>• اردن هېواد ته د سترې محکمې د جزا عمومي دېوان د رئیس د سفر په اړه له بهرنیو چارو وزارت سره همغږي شوې ده. |
| ۲ | **د مکتوبونو برخه کې** | د بېلا بېلو موضوعاتو لکه: جزائي قضیې، حقوقي قضیې، کورنۍ قضائي قضیې، د بهرنیو اتباعو پاسپورټ او پېژندپاڼو، د افغان اتباعو د جلب، د سیاحت پاسپورټ، مجرمینو استرداد، تدقیقي نظریو، وثایقو، په هېواد کې د بهرنیو اتباعو د زنداني کېدو او ... اړوند (۲۵۲) مکتوبونو په اړه اجراآت شوي دي. |

### د فرهنګي او مطبوعاتي چارو آمریت:

| شمېره | کاري اجراآت | تفصیلات |
|---|---|---|
| ۳ | **قضاء مجله** | د ۱۴۴۶ هـ ق کال درېیمه ربعه کې د قضاء مجلې اوومه ګڼه بشپړه او د چاپ په ګاڼه سمبال او توزیع شوې ده. |
| ۴ | **میزان جریده** | د ۱۴۴۶ هـ ق کال درېیمه ربعه کې د میزان جریدې ۹ګڼې (له ۸۵ ګڼې څخه تر۹۴مې ګڼې) چاپ، نشر او په ټاکلي وخت اړوند امارتي ادارو ته رسول شوې دي. |
| ۵ | **ستره محکمه په اونۍ کې** | • په څلورو ژبو (پښتو، دري، انګلیسي او عـــربي) باندې «ستره محکمه په اونۍ کې» پر عنوان (۴۸) پروګرامونه ترتیب او نشر شوي دي.<br>• ستره محکمه په اونۍ کې چې د هرې اونۍ لنډ خبرونه په څلورو ژبو (دري، پښتو، انګلیسي او عربي) په کې راټولېږي، (۹٤) ډیزاینونه ترتیب او نشر شوي دي. |
| ٦ | **د سترې محکمې د محترم رئیس او قاضي القضات صاحب اقوال** | د سترې محکمې د رئیس او قاضيالقضات محترم شیخ صاحب (۲۵) اقوال ډیزاین، ترتیب او د ټولنیزو رسنیو له لارې نشر شوي دي. |

| | | |
|---|---|---|
| ۷ | انفوگرافیک | د محاکمو د قضائي اجراآتو اړوند (۸۰) انفوګرافیک ډیزاینونه ترتیب او نشر شوي دي. |
| ۸ | سیمینارونه او جلسې | • د سترې محکمې د امنیتي او اجرائیوي چارو ریاست د معسکر اختتامیه جلسې په جوړولو کې لازمه همکاري شوې ده.<br>• د سترې محکمې د قضائي زده کړو عمومي ریاست د قضائي سیمینارونو (۳) ځانګړي راپورونه ثبت او نشر شوي دي.<br>• د ظرفیت لوړونې او اجراآتو ارزونې ریاست لخوا د سترې محکمې مرکزي دېوانونو آمرینو او نورو کارکوونکو ته د جوړ شوي سیمینار ځانګړې راپور جوړ او نشر شوی دی. |
| ۹ | دکارتونو ترتیب او دیزاین | د سترې محکمې اړوند مسؤولینو دولتي او شخصي موټرو ته (۱۸) قطعې کارتونه ترتیب او چاپ شوي دي. |
| ۱۰ | خبري بلوتن | په ټوله کې (۷۱) ګڼې خبري بولتن ترتیب، ډیزاین او اړوند شعبو ته لېږل شوی دی. |
| ۱۱ | د مرکزي ریاستونو پېژندنې خپرونه | • د قضائي تفتیش عمومي ریاست پېژندنې خپرونه په دوو ژبو (دري او پښتو) ثبت، جوړه او نشر شوې ده.<br>• د سترې محکمې د حقوقو عمومي ریاست د پېژندنې خپرونه په دوو ژبو (پښتو او دري) ثبت، اډیټ او نشر شوې ده. |
| ۱۲ | د رؤیت هلال کمېټې پروګرامونه | د رؤیت هلال کمېټې (۳) پروګرامونه ترتیب او راپور یې د ټولنیزو رسنیو له لارې نشـر شوی دی. |
| ۱۳ | د قضاء او ولس خپرونې | د «قضاء او ولس» پنځه خپرونې، ثبت، ترتیب او د ټولنیزو رسنیو له لارې نشر شوې دي. |
| ۱۴ | معلوماتي کلېپونه | د اړتیا په صورت کې په مهمو مواردو (٤) معلوماتي کلېپونه ترتیب او له رسنیو سره شریک شوي دي. |
| ۱۵ | ورځني خبرونه او نور فعالیتونه | • په ټوله کې د ولایتي محاکمو او د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو اړوند (۳۱۲) خبرونه، ترتیب، تصحېح او د ویب‌سایټ په ګډون د ټولنیزو رسنیو له لارې نشر شوي دي.<br>• د سترې محکمې د مرکزي ریاستونو د ۱٤۰۳هـ ش کال د دویمې ربعې د اجراآتو راپورونه تصحېح، ډیزاین او له رسمي آدرسونو نشر شوی دی.<br>• د ورځنی نېټې (۹۰) ډیزاینونه ترتیب او نشر شوي دي.<br>• د دربیو میاشتو جنتري ډیزاین او له رسمي ادرسونو نشر شوې ده.<br>• د سترې محکمې عالي مقام لپاره نوې لوحه ډیزاین او نصب شوه.<br>• د سترې محکمې د دفترونو لارښود نقشې ډیزاین، چاپ او اړوند ځایونو کې نصب شوي دي.<br>• د اړتیا په صورت کې له رسنیو سره همغږي شوې ده. |

## طباعتي او نشراتي آمريت:

| تفصيلات | کاري اجراآت | شمېره |
|---|---|---|
| • د امارتي ادارو، د وزارتونو د نشراتو رياستونو او د مرکزي محاکمو، استيناف محاکمو، ښاري ابتدائيه او د ولسواليو ابتدائيه محاکمو، عدليې رياستونو، د ولايتونو د اطلاعات او فرهنگ رياستونو او نورو اړوند ادارو ته په ټاکلي وخت (۱۳۵۰۰) گڼې ميزان جريده له (۸۵-۹٤) شمارې توزيع او (۱٦٤۷) قطعه مکتوبونه لېږل شوي دي.<br>• د سترې محکمې د مقام د دفتر عمومي رياست، معاونيتونو، ديوانونو او رياستونو ته (۹) جلده د قوانينو مجموعې لېږل شوي دي.<br>• په دې ربعه کې (۵۰۰۰) جلده بېلا بېل کتابونه حوزوي محاکمو ته د حفظ لپاره لېږل شوي دي. | د توزيع برخه کې | ۱٦ |
| • د سترې محکمې د مرکزي رياستونو لپاره د اړتيا وړ شاوخوا (۵۲۱۹۵) صفحې فوتوکاپي ترسره شوې دي.<br>• د رؤيت هلال کمېټې (۳٦۰) قطعې مکتوبونه، اعلاميې او کليزې چاپ او ټولو امارتي ادارو او محاکمو ته لېږل شوي دي.<br>• په دې ربعه کې د سترې محکمې (۳٦) متحدالمآلونه، (٤۱) اصولنامې، د دعوت او ارشاد درسي نصاب (۳۵۲) چپټرونه، د سترې محکمې امنيتي او اجرائيوي قطعې (۱۲۱) انگليسي او (۱٤) د پيره‌دارۍ کتابونه، مجموعاً (۵۸٤) جلده د رياستونو، (۱۸۷) د مامورينو د وتلو او ننوتلو ټکټونه، د سترې محکمې د کلينيک آمريت (٦۰۰۰) نسخې، د ترانسپورت آمريت (۲۰۰۰) نسخې ترانسپورتيشن چاپ او صحافت شوي دي.<br>• د اړتيا پر مهال د سترې محکمې کارمندانو اسناد او عکسونه پرينټ شوي دي.<br>• په دې ربعه کې معين القضاة و المفتين او القول الصريح فی بيان التراويح کتابونه ۲۰۰۰ ټوکونه چاپ شوي دي. | د طباعتي، صحافت او فوتوکاپۍ برخه کې | ۱۷ |

| | | |
|---|---|---|
| ۱۸ | **د قضاء کتابتون برخه کې** | • د سترې محکمې د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست اړوند د قضاء کتابتون لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق په درېیمه ربعه کې (٦٠) کتابونه چې مراجعینو د مطالعې په موخه له ځان سره وړې وه؛ بېرته قضاء کتابتون ته راوړل شوي او د کتابتون د موظف کس لخوا ترې بېرته تسلیمي اخېستل شوي ده.<br>• د قضاء کتابتون لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق په درېیمه ربعه کې (۱۹) کتابونه د امانت په ډول لوستونکي ته په اختیار کې ورکړل شوي دي.<br>• د قضاء کتابتون لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق په درېیمه ربعه کې د (۱۵) کتابونو موده تمدید شوې او له دې سره لوستونکی کولای شي د یوې اونۍ لپاره نور هم کتاب له ځان سره ولري.<br>• د قضاء کتابتون لخوا د ۱۴۴۶ هـ ق په درېیمه ربعه کې (۵) ورقې د هغو قضائي غړو او اداري کارکوونکو د علم خبر پاڼې تصدیق شوي چې له یوې اداري څخه بلې اداري ته تبدیل او یا هم منفک شوي دي.<br>• دغه راز په قضاء کتابتون کې د مطالعې لپاره مناسب چاپیریال، ماحول، عالي نظم او ښه فضاء د مطالعه کوونکو لپاره برابر شوي دي.<br>• په درېیمه ربعه کې د قضاء کتابتون د لا غني کېدو په موخه یاد کتابتون ته یو شمېر نوي کتابونه هم اخېستل شوي دي. |




د افغانستان اسلامي امارت ستري محكمې د رئيس او قاضي‌القضات نوي علمي هڅه او زيار!

د سترې محكمې رئيس او قاضي‌القضات محترم شيخ عبدالحكيم (حقاني) چې له وړاندې يې هم ګڼ علمي، قضائي او فقهي تصنيفات چاپ شوي، دا ځل يې د «القول الصريح في بيان صلاة التراويح» تر نامه لاندې يو مهم او مستند كتاب ليكلى دى، چې د سترې محكمې د بهرنيو، عامه اړيكو او مطبوعاتو رياست په هڅو په ښكلې صحافت او زيات تيراژ سره چاپ شوى دى.

په دغه كتاب كې د تراويحو د لمونځ پر مشروعيت، تراويح په جماعت سره ادا كول، د تراويحو د ركعتونو شمېر او د تراويحو نورې اضافي ګټې په فقهي او علمي دلايلو سره څېړل شوي دي، چې د علماوو، طلباوو او عامو خلكو لپاره ګټور اثر ثابتېدلاى شي.

ټول علمي شخصيتونه، طلاب او عام مسلمانان كولاى شي له دغه ارزښتناك كتاب څخه استفاده وكړي.

# QAZA

Sharia_ Judicial and legal
Three monthly Journal









د بهرنیو عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست

@supremeCourt_af
publications.sc1443@gmail.com
supremecourt.gov.af
د افغانستان اسلامي امارت ستره محکمه
Supreme Court ستره محکمه
2300361_2302263
ستره محکمه
ستره محکمه